ترانسپورت او هوايي چلند وزارت

د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

# ترانسپورت او هوايي چلند مجله

علمي • معلوماتي • فرهنګي

د ترانسپورتي تاسيساتو پرمختيا او د هېواد د سوکالۍ زېری

د ملکي هوايي چلند نړيوال سازمان (ايکاو)

په هوايي ډګرونو کې د اطفايي رول

اولين پرواز از نيويارک تا پاريس

د افغانستان د ترانسپورتي او ترانزيټي اړيکو پراختيا

تقويت نظم ترانسپورتی در نقاط مختلف کشور

بې ژوندي او ۲۴۱ غږونه خاموش...

د ۲۰۲۵ کال د نړۍ تر ټولو خوندي هوايي شرکت

۸ ګڼه
د ۱۴۰۴ کال لومړی



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

اَلْـحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ۔ وَالصَّلاَةُ وَالسَّلاَمُ
عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِينَ۔ وَعَلٰى آلِهِ وَاَصْحَابِهِ اَجْمَعِينَ۔



# ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي معلوماتي فرهنګي

د ۱۴۰۴ ل کال لومړۍ او پرلپسې اتمه ګڼه


امتیاز خاوند: ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

خپروونکی: د عامه اطلاعاتو او نشراتو ریاست

مسئول مدیر: نورالله غازي

کتنپلاوی: مولوي محمد موسی غزنوي، مولوي راز محمد المظهري
احمد جاوید فیضي، سید جاوید محبوب
احسان الله سعادت مدني، حکمت الله آصفي
عزیز الرحمن فراجفاني

خبریالان: عبدالحلیم حلیمي او مجیب‌الرحمن مشعل

عکس اخیستونکي: روح الله هنرجو، محمد ایمل سمون

ډیزاینر: عبدالغني افغان

پته: انصاري واټ، ملي راډيو ټلویزیون ته څېرمه
ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

اړیکې شمېره: ۰۲۰۲۹۲۳۲۹۶ (۹۳)+

ایکسپاڼه: @DChlnd

ویبپاڼه: www.mota.gov.af

# په دې ګڼه کې:


د ټرانسپورټي تاسیساتو پرمختیا او د هېواد د سوکالۍ زېری (سرلیکنه) ........................ ۱

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام لنډ پیغام! ........................ ۲

د افغانستان هوايي ډګرونه(لړۍ، پنځمه کړۍ) ........................ ۳

د ملکي هوايي چلند نړیوال سازمان (ICAO) ........................ ۸

ټرانسپورټي مفاهیم او مهم تمځایونه ........................ ۱۳

د الوتکې مهمې برخې او دندې یې ........................ ۱۵

اولین پرواز از نیویورک به پاریس ........................ ۱۷

د افغانستان د ټرانسپورټي او ترانزیټي اړیکو پراختیا ........................ ۲۱

په بېلابېلو ولایتونو کې د معیاري ټرانسپورټي ترمینلونو او اړوندو تاسیساتو پرانېسته ...... ۲۴

گسترش زیرساخت‌های ترانسپورتی و تسهیلات حمل‌ونقل در ولایات ........................ ۲۷

تقویت نظم ترانسپورتی در نقاط مختلف کشور ........................ ۲۹

د درو میاشتو په موده کې د ځینو ترسره شویو کړنو لنډ خبرونه ........................ ۳۰

په هوايي ډګرونو کې د اطفايې رول ........................ ۳۲

یوه ژوندۍ او ۲۴۱ غږونه خاموش... ........................ ۳۷

د نړۍ تر ټولو لوی نړیوال هوايي ډګر ........................ ۳۹

د ۲۰۲۵ کال د نړۍ تر ټولو خوندي هوايي شرکت ........................ ۴۰

میدان هوایی مدینه منوره بهترین میدان هوایی خاورمیانه در سال ۲۰۲۵........................ ۴۱


یادونه: له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو سپیناوی د لیکوالانو پر غاړه دی، د مجلې له مقالو ګټه اخیستنه د سرچینې په یادولو سره جواز لري، ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله د ټرانسپورټ او هوايي چلند اړوند هغو مقالو او مطالبو ته په خپلو پاڼو کې ځای ورکوي، چې بل ځای نه وي خپرې شوې.



# د ټرانسپورټي تاسیساتو پرمختیا او د هېواد د سوکالۍ زېرې

**سرلیکنه**

د افغانستان په روان تاریخي پړاو کې د زیربناوو پراختیا او د ټرانسپورټي شبکې پیاوړتیا د هېواد د اقتصادي ودې او ټولنیز ثبات لپاره د یوې سترې اړتیا په توګه راڅرګنده شوې ده. د افغانستان د ټرانسپورټي سیستم بنسټونو باندې کار روان دی، چې بیارغېږي او ودانېږي. د کابل، کندهار، اروزګان، زابل، غزني او نورو ولایتونو په کچه د معیاري مسافروړونکو ترمینلونو پرانیستې او د تیرپارکونو او نورو ټرانسپورټي تاسیساتو جوړېدل د دې ښکارندوېي کوي چې افغانستان د یوې نوې رغنیزې دورې ته ور داخلېږي.

دا پرمختګونه د هېوادوالو لپاره د ژوند اسانتیاوې او د اقتصادي ودې لپاره نوي فرصتونه رامنځته کوي، په بېلابېلو ولایتونو کې د ترمینلونو جوړول له یوې خوا مسافرو ته اسانتیاوې برابروي او له بلې خوا په مستقیم او غیر مستقیم ډول زرګونو کسانو ته د کار زمینه هم برابروي.

دغه ترمینلونه چې په جوماتونو، انتظارخونو، رسټورانتونو او په نورو اسانتیاوو سمبال دي، د هېوادوالو لپاره د عصري ټرانسپورټي سیستم یوه بېلګه ده او د ولایتونو اوسېدونکو ته د ټرانسپورټي خدمتونو د کیفیت په لوړولو کې ستر رول لوبوي. ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د خصوصي سکتور له لارې د پانګونې په جلبولو او نړیوالو سره د اړیکو په پیاوړي کولو کې هم فعال رول درلودلی دی او په دې برخه کې یې خپلې هلې ځلې جاري ساتلې دي.

په دې پرمختګونو سربېره د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت هڅه کوي چې د ګاونډ او سیمې له هېوادونو سره خپلو همکاریو ته پراختیا ورکړي. له چین، ایران، ازبکستان، ترکمنستان، تاجکستان، پاکستان، قزاقستان، ترکیې او دنړۍ له ځینو هېوادنو سره ټرانزیتي او ټرانسپورټي اړیکې پیاوړې کړي او هڅه کوي چې د توکو د لېږد رالېږد اسانتیاوې برابرې کړي، تر څو افغانستان وکولای شي خپل جغرافیوي موقعیت د یوه اقتصادي فرصت په توګه وکاروي. باید یادونه وشي چې د ټرانسپورټي زیربناوو پراختیا د هېواد د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره یوه اړتیا او د هېوادوالو د یووالي او سوکالۍ لپاره مهمه چاره ده، چې دا به د یو روښانه راتلونکي په لور د افغانستان د ګرندي سفر یوه برخه وي.



# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام لنډ پيغام!

للهالحمد افغانستان د بيارغونې، اقتصادي ودې او سيمهييزې همکارۍ پر لور يو نوی، هيلهبښونکی او رغوونکی پړاو پيل کړی دی. ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ژمن دی، چې افغانستان د يوه سيمهييز ټرانزيټي څلورلارې په توګه مطرح کړي او د هېواد موقعيت د نړيوالو دهلېزونو مهمه کړۍ وګرځوي. د دې موخې د ترلاسه کولو په خاطر په داخلي او بهرني ډګر کې پر اغېزناکو ګامونو تمرکز شوی دی. د يادونې وړ ده، چې په دې تېرو درېيو مياشتو کې له يو شمېر مهمو هېوادونو لکه: قزاقستان، ترکمنستان، ايران، اذربايجان، ازبکستان، پاکستان او متحده عربي اماراتو له استازو سره ليدنې، ناستې او هوکړې ترسره شوې دي.
له قزاقستان سره مو د هوايي دهلېز د فعالولو او افغان موټرچلوونکو ته د ويزو د اسانتياوو پر سر ګټور بحثونه کړي، له ترکمنستان سره مو د ټرانزيټ پراخولو او دوهاړخيزو ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو په برخه کې ژمنې تر لاسه کړې او له ايران هېواد سره مو د تېرپارکونو د تثبيت ترڅنګ د چابهار بندر له لارې د سوداګرۍ د اسانتيا موضوعات په تفصيل سره څېړلي. هممهاله مو کابل کې د اذربايجان سفير سره د لاجوردو لارې پر اهميت، د خصوصي سکتور د پانګونې پر هڅونې او د سوداګريزو توکو د ټرانزيټ پر پراخېدو خبرې کړې دي. د افغانستان، ازبکستان او پاکستان ترمنځ د ټرانسپورټي دهلېز پراختيا په اړه ګډه ناسته ترسره شوه، چې د سيمې هېوادونو سره د وصل يو بل مهم ګام و. همدا راز له متحده عربي اماراتو سره د ټرانسپورټ او هوايي چلند په برخه کې د پانګوالو د راجلبولو او د متقابلې همکارۍ پراخولو بحثونه شوي، چې ان شاءالله ژر به عملي بڼه غوره کړي.
په همدې لړ کې مو د افغانستان اسلامي امارت د رياستالوزراء اقتصادي مرستيال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ روسيې هېواد ته سفر ترسره کړ او د لومړي وزير له مرستيال الکسي اويرچوک سره د کازان ښار په اقتصادي فورم کې ګډون وکړ. د افغانستان د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د روسيې د ټرانسپورټ وزارت ترمنځ يو مهم هوکړهليک لاسليک شو. دغه هوکړه د دوهاړخيزو ټرانزيټي همکاريو، سيمهييز اتصال، او د اقتصادي دهلېزونو د پراخېدو لپاره خورا ارزښتناک ګام او د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره به نوې دروازې پرانيزي. زموږ موخه د باور، ثبات، پانګونې، شفافيت او د افغان ملت د عزت لپاره يو داسې سيستم رامنځته کول دي، چې له مخې يې افغانستان د سيمې او نړۍ له مهمو اقتصادي حلقو سره وتړل شي.
په پای کې بايد يادونه وکړم، چې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د يوه خدماتي بنسټ په توګه ژمن دی، چې د هېواد د اقتصادي ودې، سيمهييزې همکارۍ او ملي عزت د خوندي کولو لپاره خپل مسؤليتونه په امانت، صداقت او دوامداره هڅو ترسره کړي.

## الحاج ملا حميدالله اخندزاده

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت وزير

# د افغانستان

## هوايي ډګرونه

(لړۍ)



د افغانستان د هوايي ډګرونو د پېژندګلوۍ په دې لړۍ کې دا ځل د افغانستان په سوېل ختيځ خوست ولايت کې پنځم هوايي ډګر (خوست نړيوال هوايي ډګر) در پېژندل کېږي.



# خوست نړیوال هوایي ډګر

د خوست نړیوال هوایي ډګر د افغانستان په ختیځ زون کې یو له مهمو او ستراتیژیکو هوایي ډګرونو څخه دی او د افغانستان پنځم نړیوال هوایي ډګر دی، چې کورنۍ او بهرنۍ الوتنې ترې ترسره کېږي. دا هوایي ډګر د ختیځ زون مسافرو ته د تګ راتګ لپاره ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې دي او د هېواد په اقتصادي پرمختګ، سوداګرۍ او نړیوالو اړیکو په پیاوړتیا کې مهم رول لري. یاد هوایي ډګر کې ډېرې تاسیساتي چارې په دې وروستیو کې ترسره شوې دي، نو ډېرۍ تاسیسات یې نوي او په عصري سیستم جوړ شوې دي، له فتحې وروسته ورته ځانګړې پاملرنه شوې ده او په هېواد کې د یو غوره هوایي ډګر په توګه مطرح شوی دی. په دې مقاله کې به د خوست نړیوال هوایي ډګر د بېلابېلو برخو، تاسیساتو او وروستیو پرمختګونو په اړه تفصیلي معلومات وړاندې شي.

## د خوست نړیوال هوايي ډګر تاریخچه او اهمیت

د خوست نړیوال هوايي ډګر د خوست ولایت په مرکز کې موقعیت لري، چې په (۲۶۲۸) جریبه ځمکه کې جوړ شوی دی او د هېواد پنځم لوی هوايي ډګر بلل کېږي، چې د ملکي او نظامي الوتنو لپاره کارول کېږي. دا هوايي ډګر چې د هېواد دا لرې پرته سیمه یې له نړۍ سره نښلولې ده، خلکو ته یې د سفر تر څنګ سوداګریزې اسانتیاوې هم برابرې کړې دي.

د خوست نړیوال هوايي ډګر ترمینل په ۸۰۰۰ مربع متره ځمکه کې د نړیوالو معیارونو سره سم جوړ شوی دی، چې چارې یې د ۱۳۹۷ ل کال د لیندۍ میاشتې په ۱۳ مه نېټه پیل او د ۱۴۰۰ ل کال د غويي میاشتې په ۱۴ مه نېټه بشپړ شوې دي. د دې ترمینل اوږدوالی ۱۳۵ متره او پلنوالی یې ۶۰ متره دی، په ټولو عصري او تخنیکي امکاناتو سمبال او د مسافرو د ارامتیا او خوندیتوب لپاره ټولې اړینې اسانتیاوې ورته په پام کې نیول شوې دي.

د ترمینل تر څنګ د هوايي ډګر د الوتکو پارکینګ (Apron) ساحه هم د پام وړ ده، چې اوږدوالی یې ۳۵۰ متره او پلنوالی یې ۱۷۷ متره دی او دا هم د ترمینل سره یو ځای ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه. دا ساحه د هر ډول الوتکو د پارکینګ وړتیا لري او د نړیوالو معیارونو سره سمه برابره ده.

## د هوايي ډګر جومات او د موټرو تمځای:

د خوست نړیوال هوايي ډګر یوه بله مهمه پروژه د نوي جومات جوړول دي، چې د مسافرو او کارکوونکو د دیني اړتیاوو د پوره کولو لپاره پلان شوې ده او دې ښکلي جوړ شوي جومات ټول هوايي ډګر ته ځانګړې ښکلا وربښلې ده. پخوا به مسافر د لمانځه پر مهال د مناسب ځای د نشتوالي له امله له ستونزو سره مخ وو. د دې ستونزې د حل لپاره، د اسلامي امارت رهبرۍ د یوه دوه منزله جومات د جوړولو امر وکړ، چې مساحت یې ۷۰ متره مربع دی، په دې جومات باندې ټولټال ۲۱ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی دی، چې د نارینه او ښځینه‌وو لپاره جلا جلا لمونځایونه لري.

د خوست نړیوال هوايي ډګر کې د ۸۳۰۰ مربع مترو په اندازه د موټرو تمځای جوړ او دا هم د ۱۴۰۰ ل کال د غوايي میاشتې په ۱۴ مه نېټه بشپړ او ګټې اخیستنې لپاره پرانیستل شو. دا پارکینګ د دوو پخو سړکونو له لارې، چې اوږدوالی یې شاوخوا ۴۰۰ متره دی، د هوايي ډګر له لویې دروازې سره نښلول شوی. د پارکینګ پراخه ساحه د ګڼ شمېر وسایطو د پارکینګ وړتیا لري او په معیاري توګه جوړه شوې ده. د دې تر څنګ د هوايي ډګر لویه دروازه هم جوړه او له عمومي سړک څخه ورته منظم سړک وغځول شو.





## څفاستليکه، ټکسوې او د اطفائيې وداني

د خوست نړيوال هوايي ډګر څفاستليکه د الوتکو د کېناستو او پورته کېدو لپاره يوه مهمه برخه ده، چې اوږدوالی يې (۲۶۶۴) متره او پلنوالی يې (۴۵) متره دی او چارې يې د ۱۳۹۹ کال په جريان کې بشپړ او د ګټې اخيستنې لپاره پرانستل شوه. همدارنګه د هوايي ډګر ټکسوې د جوړېدو چارې هم چې ټول مساحت يې ۵۹۹۰ مربع متره دی، په همدې کال کې بشپړې شوې دي او د اوروژنې (اطفائيې) وداني، چې د هوايي ډګر په عملياتي ساحه کې موقعيت لري د ۱۳۹۸ کال په جريان کې يې جوړولو چارې بشپړې شوې دي. دا وداني، دوه اوروژونکي موټر لري، چې د بېړنيو حالاتو د کابو کولو وړتيا لري او د دې تر څنګ د خوست نړيوال هوايي ډګر د الوتکو څخه د درنو مالونو د راښکته کولو او پورته کولو لپاره درې فورکـليفټ موټر او يو کرينګ کماز لري چې د درنو توکو د انتقال او د تخنيکي وسايلو د ترميم لپاره اړين ګڼل کېږي او د هوايي ډګر عملياتي وړتيا يې نوره هم پياوړې کړې ده.

## د هواپېژندنې وداني او د څار برج

د هواپېژندنې وداني چې مساحت يې ۲۰۰ مربع متره دی، د ترمينل په لويديځه برخه کې موقعيت لري او د ۱۳۹۸ ل کال په جريان کې جوړه شوې ده. دا وداني د هوايي ډګر د عملياتو لپاره د هواپېژندنې د کره معلوماتو د چمتو کولو لپاره يو مناسب ځای دی او د دې تر څنګ د وسايطو د ترميم لپاره يو ګراج هم شته، چې د تخنيکي اړتياوو د پوره کولو لپاره کارول کېږي.

د هوايي ډګر د څار برج، چې د ترمينل ختيځې برخې په ۶۰ متري، کې موقعيت لري، د ۱۴۰۰ کال د غويي مياشتې په ۱۲ مه نېټه ګټې اخيستنې ته وسپارل شو. د دې ټاور زيربنايي مساحت ۳۵۰ مربع متره او لوړوالی يې ۲۰ متره دی.

## له برېښنا سره نښلول

د اسلامي امارت له حاکمېدو وراندې خوست نړيوال هوايي ډګر د برېښنا د کمښت له امله له ګڼو ستونزو سره مخ و، چې د الوتنو عمليات او اداري چارې يې له ځنډ او ځنډ سره مخ کولې. د دې ستونزې د حل لپاره، د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ۱۴۰۰ کال د تلې مياشتې په ۱۳ مه نېټه د وارداتي برېښنا د لېږد پروژه پيل کړه او د همدې کال د تلې مياشتې په ۲۸ مه نېټه د ۱۵ ميليونه افغانيو په لګښت بشپړ او ګټې اخيستنې ته وسپارل شوه. د برېښنا د پرچاوې، مخنيوي لپاره، دوه قوي جنراتورونه هم اخيستل شوي، چې بو يې د څار برج او بل يې د ترمينل د امنيتي کمرو لپاره کارول کېږي. دا جنراتورونه د برېښنا د نشتوالي پر مهال د مخابراتي او تخنيکي وسايلو د فعال ساتلو لپاره اړين دي.

**تفريحي پارک او نورې پرمختياوې:**

د خوست نړيوال هوايي ډګر د ښکلا او مسافرو د ارامتيا لپاره يو تفريحي پارک هم جوړ شوی، چې مساحت يې ۶۰۰ مربع متره دی. د دې پارک جوړولو چارې د ۱۶/۸/۱۴۴۳ نېټه پيل او د ۳/۹/۱۴۴۳مه نېټه د دريو ميليونو افغانيو په لګښت بشپړې شوې، د پارک د سرک په دوارو غاړو کې د نيالګيو او شنو سيمو د هوايي ډګر ښکلا لا پسې زياته کړې ده او د دې تر څنګ د خوست نړيوال هوايي ډګر ترمينل د ننه د VIP خونو او اداري دفترونه په ډېره ښه بڼه جوړ شوې دي او په ټولو اړينو وسايلو سمبال دي، چې د هوايي ډګر په وقار او حيثيت ساتلو کې يې مهم رول لوبولی دی.

**په دې وروستيو کې ځينې پرمختګونه:**

له خوست نړيوال هوايي ډګر څخه د کورنيو او بهرنيو الوتنو د پراخېدو ترڅنګ، د ياد هوايي ډګر د بنسټيزو او خدماتي پروژو چارې هم په چټکۍ سره روانې دي. په دې وروستيو کې د کام اير هوايي شرکت له لورې له خوست څخه دوبۍ، د سعودي عربستان جدې ښار ته او د دې تر څنګ د کابل. خوست ترمنځ دوه طرفه الوتنې پيل شوې، چې د مسافرو لېږد رالېږد کې د پام وړ اسانتيا رامنځته شوې ده. بل خوا د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لورې د شاوخوا ۸ ميليونه افغانيو په ارزښت د ځفاستليکې دوارو خواوو رغونې او هوارونې چارې بشپړې شوې، چې نږدې ۱۲۱ جريبه ځمکه پکې هواره شوې ده. همداراز د ۱۱ ميليونه ۳۵۵ زره افغانيو په لګښت د ځفاستليکې دوارو خواو ته د تخريب مخنيوي په موخه (۲۷۰۰) مربع مترو په اندازه د اوبو وړو کانالونو جوړولو او د تيږو لګولو چارې ترسره شوې. د ياد هوايي ډګر د لا معياري کولو په موخه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لهخوا له يوه افغاني شرکت سره، چې د مولانا جلال‌الدين محمد بلخي نړيوال هوايي ډګر ځمکنيو خدمتونو چارې هم پر مخ وړي، د عامه او خصوصي مشارکت له مخې د پنځو کلونو په موده د ځمکنيو خدمتونو (Ground Handling) تړون لاسليک شو. برسېره پر دې د شاوخوا ۲۳ ميليونه افغانيو په ارزښت د ۱۹۰۰ مترو په اوږدوالي د چاپېرېدونکي ديوال (فينس) چارې هم ترسره شوې دي، چې د خوست نړيوال هوايي ډګر د پراختيا په برخه کې مهم پرمختګ بلل کېږي.

خوست نړيوال هوايي ډګر د افغانستان ختيځو ولايتونو ته د هوا له لارې د تګ راتګ ستره اسانتيا برابره کړې او د ټول هېواد د اقتصادي ودې او نړيوالو اړيکو په پياوړتيا کې يې مهم رول لوبولی دی. د نوو تاسيساتو جوړول، عصري تجهيزات او د خدماتو پراختيا دا ډګر د يو معياري او باوري هوايي مرکز په توګه مطرح کړی دی. دا پرمختګونه ښيي چې خوست نړيوال هوايي ډګر د افغانستان په هوايي ټرانسپورټ کې يو ځانګړی ځای لري او د هېواد د لا پرمختګ هيلې پسې ترلې دي.



# د ملکي هوايي چلند نړيوال سازمان (ICAO)



# د ملکي هوايي چلند نړيوال سازمان (ICAO)

د ملکي هوايي چلند نړيوال سازمان، چې په لنډ ډول د (ICAO¹) په نوم يادېږي، د ملګرو ملتونو اړوند يو ځانګړی سازمان دی. دا سازمان د لومړي ځل لپاره په ۱۹۰۳ز کال کې په برلين کې جوړ شو؛ خو د هغه وخت د اتو هېوادونو د ګډون سربېره، هېڅ هوکړې ته ونه رسېدل. د بيا ځل لپاره په ۱۹۰۶ز کال کې غونډه وشوه، چې ۲۷ هېوادونو پکې برخه واخيسته او دريمه ناسته يې په ۱۹۱۲ز کال کې په لندن کې ترسره کړه. د ايکاو کنوانسيون د ۱۹۴۴ز کال د ډيسمبر پر ۷مه نېټه² د امريکا په شيکاګو ښار کې تصويب شو، چې ۵۲ هېوادونو لاسليک کړ. له نېکه مرغه له افغانستان څخه د همغه وخت د بهرنيو چارو وزارت معين او په امريکا کې د افغانستان سفير عبدالله ملکيار د افغانستان د استازي په توګه په دې نړيوال کنفرانس کې ګډون کړی و او فعاله ونډه يې پکې درلوده. دا سازمان وتوانېد چې په ۱۹۴۵ز کال کې خپل فعاليت ته دوام ورکړي او اوس له ۱۹۳ غړو هېوادونو سره همکاري کوي. ايکاو د نړيوالو هوايي ډګرونو لپاره څلور حرفي ځانګړی کوډ لري، چې د ياټا (IATA) له کوډونو سره توپير لري. د IATA کوډونه معمولاً د الوتنو جدول، ټکټونو د ثبت او عامو سوداګريزو موخو لپاره کارول کېږي؛ خو د ايکاو کوډونه تخصصي بڼه لري او د هوايي ترافيک کنټرول، الوتنو پلان جوړونې او نورو تخنيکي موخو لپاره کارېږي.

د ملکي هوايي چلند نړيوال سازمان (ICAO) چې د ملګرو ملتونو يوه ځانګړې اداره ده، د نړيوالو الوتنو اصول او تخنيکونه معياري کوي او د نړيوال ټرانسپورټ تنظيم، پراختيا او خونديتوب تضمينوي. د دې سازمان مرکزي دفتر د کاناډا په مونټريال ښار کې موقعيت لري؛ خو لنډمهاله توګه بل ځای ته هم لېږدول کېدای شي.

د ايکاو نړيوال سازمان د نا قانونه لاسوهنې مخنيوی، د الوتنو څارنه، د نوې تګلارې د رامنځته کولو سپارښتنې، د نوېګيشن اړوند معيارونه وضع کوي او د نړيوال هوايي چلند لپاره د پولو د تېرېدو کړنلاره اسانوي. همدارنګه د هغو هېوادونو لپاره چې د دې کنوانسيون غړي دي، د هوايي پېښو د څېړنې اصول ټاکي.

اوسمهال، ايکاو ۱۹ انکسونه (ضمايم) او نور رسمي اسناد لري، چې د ملکي هوايي چلند د اسانتياوو، خونديتوب او معيارونو د تأمين لپاره کارول کېږي. دا انيکسونه د هوايي چلند په بېلابېلو برخو کې د لارښوونو رول لري او د نړيوالو هېوادونو ترمنځ د يووالي او همغږۍ رامنځته کولو لپاره مهم دي. په دې مقاله کې به د ايکاو ۱۹ انيکسونه په لنډ او روښانه ډول درته وړاندې کړو.

۱- International Civil Aviation Organization
۲- [illegible]
۳- [illegible]
۴- [illegible]






# د ایکاو انکسونه

**پرسونل ته جواز ورکول (Personnel Licensing)**

دا انکس د هوايي چلند د صنعت د بېلابېلو سندونو ترلسه کولو شرایط بیانوي. همدارنګه هغه نړیوال قواعد او مقررات وړاندې کوي چې پیلوټان او تخنیکي کارکوونکي یې باید په هوا کې مراعات کړي.

**د هوايي چلند مقررات (Rules of the Air)**

په دې انکس کې د هوايي چلند د مقرراتو توضیحات راغلي، چې پیلوټان او نور اړوند کارکوونکي یې باید تعقیب کړي. دا مقررات د نښه‌یي توکو د نه‌کارولو، د خلکو د مال او ژوند د خوندیتوب او نورو عامه اصولو مراعات ته ځانګړي شوي دي.

**د هواپېژندنې خدمتونه (Meteorological Service for International Air Navigation)**

دا انکس د هوايي چلند اړوند د هوا پېژندنې نړیوال اصول، د هواپېژندنې سټېشنونو راپورونه، د هوا حالاتو وړاندوینه او اړوند معلومات وړاندې کوي.

**د هوايي چلند نقشې (Aeronautical Charts)**

په دې انکس کې د ایکاو د نړیوالو معیارونو پر بنسټ د هوايي چلند نقشو ته ځانګړې پاملرنه شوې، چې د هوايي ډګرونو، د الوتکو د تګ راتګ او د فضايي مسیرونو لپاره معیاري نقشې برابروي.

**د اندازه کولو واحدونه (Units of Measurement to Be Used in Air and Ground Operations)**

په دې انکس کې د هغو نړیوالو واحدونو د اندازه کولو وضاحت شوی، چې د هوايي او ځمکنیو عملیاتو لپاره کارول کېږي.

**د الوتکو عملیات (Operation of Aircraft)**

دا انکس د الوتکو د عملیاتي اړتیاوو، د هوايي شرکتونو فعالیت او اړوندو نړیوالو مقرراتو توضیحات وړاندې کوي.

**د الوتکې تابعیت او د راجستریشن نښه (Aircraft Nationality and Registration Mark)**

په دې انکس کې د الوتکو د ثبت نړیوال اصول، د هېوادونو لپاره ټاکل شوي مقررات او د راجستریشن او پېژندنې نښو پورې اړوند قواعد شامل دي.

**د الوتکې هوايي وړتیا (Airworthiness of Aircraft)**

په دې انکس کې د الوتکو د جوړولو، ساتنې، او عملیاتي وړتیا لپاره نړیوال معیارونه بیان شوي دي.

**اسانتیاوې (Facilitation)**

دا انکس د مسافرو د تګ راتګ، د ګمرکي پروسو او د اسنادو د اسانتیاوو لپاره نړیوال اصول وړاندې کوي.

**د هوايي چلند مخابرات (Aeronautical Telecommunication)**

په دې انکس کې د مخابراتي، نیویګیشن او راداري وسایلو د جوړولو، نصب، او ساتنې مقررات، د الوتکو ټیلیکس (Aircraft Telex) او د هوايي پیغامونو اړوند قواعد شامل دي.

**د هوايي ترافیک خدمتونه (Air Traffic Services)**

دا انکس د هوايي ترافیکو د تنظیم، الوتنې د خوندیتوب او د هوايي ترافیکي خدمتونو لپاره اړین مقررات وړاندې کوي.

**لټون او ژغورنه (Search and Rescue)**

دا انکس د لټون او ژغورنې مقررات، عملي لارښوونې او د بېړنیو حالتونو د مدیریت اصول توضیح کوي.

**د الوتکې د پېښې څېړنه (Aircraft Accident Investigation)**

په دې انکس کې د الوتکو د پېښو د پلټنو اړوند نړیوال معیارونه او عملي سپارښتنې بیان شوې دي.

**هوايي ډګرونه (Aerodromes)**

دا انکس د هوايي ډګرونو، د ټیکسي لارو، پارکینګ ځایونو، ودانیو، نښو او څراغونو اړوند نړیوال معیارونه وړاندې کوي.

**د هوايي چلند اطلاعاتي خدمتونه (Aeronautical Information Services)**

په دې انکس کې د نړیوال هوايي نیویګیشن د خوندیتوب او تنظیم لپاره اړین معلومات، د (AIP[3]) کتاب برابرول او د ترون کوونکو هېوادونو د اطلاعاتي خدمتونو د تنظیم اصول شامل دي.

**چاپېریال ساتنه (Environmental Protection)**

دا انکس د هوايي چلند له لارې د چاپېریال ساتنې اصول بیانوي، د کاربن ډای اکساید کمولو او د هوايي ککړتیا عواملو د کنټرول مقررات وړاندې کوي.

**امنیت (Security)**

په دې انکس کې د الوتنو د خوندیتوب، د الوتکې دننه د عملې د امنیت او د نړیوالو امنیتي معیارونو لارښوونې بیان شوې دي، ترڅو الوتنې له ګواښونو او خنډ پرته ترسره شي.

**د هوا له لارې د خطرناکو توکو خوندي لېږد (Safe Transportation of Dangerous Goods by Air)**

دا انکس د خطرناکو توکو د هوايي لېږد، د نړیوالو مقرراتو، د توکو طبقه‌بندۍ او د اړینو محدودیتونو په اړه بحث کوي.


**د خوندیتوب مدیریت (Safety Management)**

دا انکس، چې د ایکاو نوی انکس دی او د ۲۰۱۳ کال د نومبر په ۱۴مه نېټه تصویب شو، د هوايي ترانسپورت د عملیاتو د خوندیتوب د ښه‌والي، د عمومي خوندیتوب فعالیت او د نړیوالو مقرراتو پر اهمیت ټینګار کوي.

۳. AIP (Aeronautical Information Publication) ...

د ملکي هوايي چلند نړیوال سازمان (ICAO) د نړیوال هوايي چلند د خوندیتوب، تنظیم او پرمختګ اساسي بنسټ دی. دا سازمان د خپلو ۱۹ انکسونو له لارې د الوتنو هر اړخ معیاري کوي، د هوايي ترافیک، چاپېریال ساتنې، امنیت او مسافرو د اسانتیاوو تنظیم ته ژمن دی. ایکاو د نړیوال هوايي ټرانسپورټ د خوندیتوب، اغېزمنتیا او همغږۍ مهم رول لري، چې د راتلونکي لپاره د نوښت او پرمختګ زمینه برابروي.





# ترانسپورتي مفاهيم
# او
# مهم تمځايونه

ترانسپورټ د یوې ټولنې اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره اړین عنصر دی. د ترانسپورټ ځینې ځایونه لکه تیرپارک، ترمینل، روند نوبت، هډه او تمځای په ورځنۍ ژوند کې مهم رول لوبوي. په دې لنډه مقاله کې به موږ د دې ځایونو په اړه په تفصیل سره خبرې وکړو، تر څو له دې ځایونو او په دې ځایونو کې د ترسره کېدونکو کارونو سره ښه بلد شي.

**ترمینل:**

ترمینل (Terminal) د انګلیسي ژبې لغت دی، چې معنا یې د یوې ټاکلې موخې ځای یا پای ټکی دی. تاسې به د ترمینل نوم په هوایي ډګر کې هم اورېدلی وي، چې په هوایي ډګر کې ترمینل هغه ځای ته ویل کېږي، چې مسافر د الوتنې څخه وړاندې یا وروسته پکې تم کېږي او د دوی لپاره ټول اړین خدمتونه پکې برابر شوي وي. دا چې دلته په ځمکنۍ ترانسپورټ خبره کوو، نو په ځمکني ترانسپورټ کې ترمینل هغه ځای ته ویل کېږي، چې مسافر یا مالونه د یوه موټر نه بل موټر ته انتقالېږي. دا ځایونه په دوه برخو وېشل کېږي: مسافروړونکی ترمینل او باروړونکی ترمینل. مسافروړونکی ترمینلونه د بسونو، ټرېنونو او الوتکو لپاره جوړېږي، په داسې حال کې چې باروړونکي ترمینلونه د مالونو بار او تخلیه کولو لپاره ځانګړي شوی وي په ترمینلونو کې د مسافرو لپاره ټولې اسانتیاوې برابرې شوې وي. په هېواد کې د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت اړوند ځینې ترمینلونه جوړ شوي او یا د جوړېدو په حال کې دي، چې ټولې اړینې اسانتیاوې پکې برابرې شوې دي.

**روند نوبت:**

روند نوبت هغه لړۍ یا پروسه ده چې له مخې یې باروړونکي موټرونه خپل نوبت پېژني او په ترتیب سره بار وړلو نوبت ته مخکې کېږي. دا پروسه د ترانسپورټ د نظم او د ګډوډۍ د مخنیوي لپاره ډېره ګټوره دی. د روند نوبت ګټه دا ده چې ټول موټرونه په منظم ډول خپل نوبت ته رسېږي او له اضافي ځنډ څخه مخنیوی کېږي.

**تیرپارک:**

تیرپارک (TIR Park) د هغو باروړونکو وسایطو لپاره ځانګړی، معیاري او ستراتیژیک تمځای دی، چې د نړیوال ترانزیټ د TIR کنوانسیون په چوکاټ کې له یوه هېواد څخه بل ته مالونه لېږدوي TIRچې د (Transports Internationaux Routiers) لنډیز دی، معنا یې "نړیوال واټ ترانسپورټ" ده، دا یو نړیوال سیستم دی، چې د ګمرکي اسنادو، امنیتي مهرونو یا ټاپو او هوکړو له لارې د وسایطو د ازاد تګ راتګ زمینه برابروي.

تیرپارکونه عموماً د لویو لارو، بندرونو او د یوه هېواد د پولو په اوږدو کې جوړېږي، چې د موټرو د پارکینګ تر څنګ پکې د تیلو پمپ، رستورانټ، دوکانونه، اطفایه، کلینیک، انتظارځایونه، ورکشاپونه او نورې اړینې اسانتیاوې لري. تیرپارکونه د ترانزیټي تګ راتګ د اسانولو، د وسایطو د نظم او د سوداګرو لپاره د اعتماد رامنځته کولو لپاره خورا ډېر ارزښت لري.

د افغانستان ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هېواد په ځینو لویو لارو کې د خصوصي سکتور په همکارۍ له نړیوالو معیارونو سره سم د تیرپارکونو جوړول پیل کړي دي، چې ټولې اسانتیاوې پکې په پام کې نیول شوې دي. که چېرې په هېواد کې د تیرپارکونو جوړولو ته همداسې جدي پاملرنه وشي، له دې سره به د ګاونډ او سیمې له هېوادونو سره ترانزیټي همکارۍ پیاوړې او افغانستان به د منځنۍ او سویلي اسیا ترمنځ د یوه ستر ترانزیټي دهلېز حیثیت خپل کړي. له دې سره به د هېواد صادرات، عواید او سوداګریزې اړیکې هم پراخې او منظمې شي.

**هډه:**

هډه هغه ځای دی چې مسافر او موټرونه د یوې ټاکلې موخې لپاره د یوې ټاکلې مودې لپاره ودرېږي. دا ځای په ځانګړي ډول د مسافرو او مالونو د پورته کولو او ښکته کولو لپاره کارول کېږي. د هډې معنا "دریدنه" یا "تم کېدل" ده.

**تمځای:**

تمځای هغه ځای ته وایي چې موټرونه د لنډ وخت لپاره درېږي، یا د مسافرو پورته او ښکته کولو لپاره ځانګړی شوی وي. دا ځایونه په ښارونو او بازارونو کې د عامه ترانسپورټ لپاره ځانګړي شوي دي.

د ترانسپورټ اړوند دا مهم ځایونه لکه ترمینل، تیرپارک، روند نوبت، هډه او تمځای د یوې ټولنې د ترانسپورټ په نظم کې مهمه ونډه لري. د دې ځایونو سمه پېژندنه او کارونه د ترانسپورټ په برخه کې د نظم او همغږۍ لپاره ګټور ثابتېږي.

# د الوتکې مهمې برخې او دندې يې

الوتکه د انسان له هغو تخنيکي اختراعاتو څخه ده، چې د هوا له لارې د تګ راتګ مهمه وسيله بلل کېږي. د يوې الوتکې جوړښت له بېلابېلو برخو څخه تشکيل شوی دی، چې هره يوه يې ځانګړې دنده لري. د الوتکې دا برخې يو له بله سره همغږې او په ګډه د الوتنې، ناستې او خپل مسير ته د رسېدو اسانتيا برابروي. په دې مقاله کې به د يوې مسافر وړونکې الوتکې مهمو برخو ته لنډه، خو واضح کتنه وکړو.



**د الوتکې اساسي برخې او د هغوی تشریح:**

A ـ د الوتکې مخکینۍ برخه/د پیلوټانو ځای

دا هغه ځای دی چې د الوتکې کنټرول، وسایل او د پیلوټانو چوکیو ځای پکې وي. له همدې ځایه الوتکه هدایت‌کېږي، پورته کېږي، کښته کېږي او مسیر بدلوي.

**B ـ د الوتکې ماشین**

د الوتکې اصلي محرکه برخه ده، چې د حرکت او الوتنې ځواک برابرولو مسؤلیت لري. معمولاً دا ماشینونه د وزرونو لاندې یا د الوتکې شاته لګول شوي وي.

**C ـ د مسافرو کوټه**

د الوتکې هغه برخه ده، چې مسافر پکې کیني. دا برخه په بدنه یا تنې کې موقعیت لري او د ارام سفر لپاره اړین تجهیزات لري.

**D ـ د الوتکې وزر/ بازو**

وزرونه د الوتکې د پورته کېدلو او ناستې لپاره مهم رول لري. همدارنګ د وزرونو سره ماشینونه، فلپس او ایلیرونونه (aerodynamic control surfaces) ترلي وي، چې د الوتکې ثبات او حرکت ته اسانتیا برابروي.

**E ـ د الوتکې اړوونکې برخه**

دا برخه د بازو په پای کې نصب شوې وي او د الوتکې د اړولو یا رول کولو کنټرول برابروي، یعنې چپه یا راسته یې اړوي.

**F ـ د وزر غځېدونکې برخه**

دا کوچنۍ خوځنده برخې دي چې د وزرونو په څنډو کې ځای لري او د پورته کېدلو او کښته کېدلو پر مهال د الوتکې د لپاره اضافي پورته کولو ځواک برابروي.

**G ـ د الوتکې د لکۍ وزر/ افقي ثبات ورکوونکې برخه**

دا برخه د الوتکې د ثبات لپاره مهمه ده او د الوتنې پر مهال د الوتکې توازن ساتي.

**H ـ پورته کوونکې او کښته کوونکې کنټرول سطحه**

دا د الوتکې په شا افقي برخه کې ده او د الوتکې پورته او ښکته حرکت کنټرولوي.

**I ـ شا دم/رادر (Rudder)**

دا عمودي برخه ده چې د الوتکې د لکۍ سره نښلول شوې وي. د همدې برخې په وسیله د الوتکې سمت بدلېږي او ښۍ یا کینې خوا ته یې مخ ګرځول کېږي.

**J ـ د الوتکې تنه / فیوزلاژ**

فیوزلاژ یا د الوتکې تنه، د الوتکې مرکزي یا منځنۍ برخه ده، چې د پیلوټانو ځای، د مسافرو کوټه او د بار ځای پکې موقعیت لري. الوتکه یوه پېچلې تخنیکي وسیله ده چې هره برخه یې ځانګړی نقش لري. د پیلوټانو له کنټرول خونې نیولې، تر ماشین، وزرونو، لکۍ او فیوزلاژ پورې هره برخه یې باید په سم ډول فعاله وي، تر څو یو خوندي او منظم پرواز ترسره شي. د الوتکې د دغو برخو پېژندنه د هوايي چلند د زده‌کړې لپاره مهمه او د عامو مسافرو لپاره هم ګټوره ده تر څو د سفر پر مهال له خپلې الوتکې سره په سمه توګه اشنا شي.

**احمد یاسر لودین**

**د هوائي چلند د اطلاعاتو NOTAM مدیر**



# اولین پرواز از نیویورک به پاریس

در ۲۱ ماه می سال ۱۹۲۷م، برای نخستین‌بار یک طیاره توانست بدون توقف از یک سوی اقیانوس اطلس به سوی دیگر آن پرواز کند.

در این روز، چارلز لیندبرگ (Charles Lindbergh)، پیلوت امریکایی در مدت ۳۳ ساعت و ۵۰ دقیقه از نیویورک به پاریس رسید.

لیندبرگ (۱۹۰۲–۱۹۷۴م) از کودکی به طیاره‌ها علاقه داشت. زمانی که او در ایالت ویسکانسین امریکا تحصیل می‌کرد، در سال دوم تحصیلش دریافت که علاقه‌اش به پرواز از دیگر چیزها بیشتر است. او تصمیم گرفت تحصیل را رها کند و پیلوتی بیاموزد.

لیندبرگ پس از تکمیل کردن چند دوره از آموزش‌های پیلوتی، به خدمت سربازی رفت و سپس فعالیت خود را در بخش هوانوردی آغاز کرد.



پیش از او، تعداد زیادی از پیلوت‌ها تلاش کرده بودند که با طیاره از یک سوی اقیانوس اطلس به سوی دیگر آن پرواز کنند، اما به دلیل نارسایی و کمبودی‌های فنی در بخش تکنالوژی پرواز موفق نمی‌شدند.
آن‌ها باید هفت هزار کیلومتر را بدون توقف پرواز می‌کردند، اما ذخیره‌گاه تیل سوخت (نفت) طیاره‌های‌شان آن‌قدر گنجایش سوخت کافی را نداشت که در یک‌بار هفت هزار کیلومتر را طی کند. طیاره‌های کوچک در آن زمان نه‌تنها ذخیره گاه کوچکی داشتند، بلکه نمی‌توانستند همراه بار در ارتفاع بلند پرواز کنند.
با این حال، علاقمندی برای پرواز از یک سوی اقیانوس اطلس به سوی دیگر آن بسیار زیاد بود، حتی یک تاجر برای کسی که بتواند این کار را انجام دهد، جایزه‌ای به مبلغ ۲۵ هزار دالر تعیین کرد. تلاش‌های زیادی صورت گرفت، اما هیچ‌کدام نتیجه‌ای نداشت.
لیندبرگ نتوانست به‌راحتی از این چالش خطرناک چشم‌پوشی کند. او سفارش ساخت انجن برای یک طیاره داد که به باورش توان عبور از اقیانوس اطلس را داشت.
لیندبرگ برای آزمایش این طیاره، در ماه می سال ۱۹۲۷م از سن‌دیاگو به نیویورک پرواز کرد، هرچند یک‌بار در مسیر راه در سنت‌لوئیس فرود آمد. با این حال، مدت زمان پرواز ۲۱ ساعت و ۲۵ دقیقه بود که خود یک رکورد به حساب می‌آمد.
در نیویورک مشخص شد که وضعیت آب‌وهوا ممکن است پیلوت را مجبور به تأخیر چندروزه در پرواز کند. با این حال، چارلز تصمیم گرفت که در ۲۱ ماه می پرواز کند.
او صبح زود خود را به میدان هوایی رساند. ساعت ۷ و ۵۷ دقیقه صبح بود که از میدان هوایی روزولت پرواز کرد. این خبر به‌صورت گسترده در رسانه‌ها منتشر شد. در سرتاسر امریکا مردم منتظر لیندبرگ بودند و بسیاری از آن‌ها برای تماشای پرواز او از خانه‌ها بیرون آمده بودند.
با وجود این‌که هوا بارانی بود و طیاره به‌آهستگی اوج گرفت و به‌تدریج سرعتش را افزایش داد، لیندبرگ برای صرفه جویی در مصرف سوخت، سرعت را پایین نگه داشت.
این پرواز برای چارلز آشکار ساخت که در پروازهای طولانی‌مدت، آن هم بر فراز اقیانوس‌ها، مشکلاتی وجود دارد؛ مانند کاهش شدید دمای هوا، یخ‌زدگی، رعد و برق، بادهای شدید و موارد دیگر.

**ترجمه: عزیزالرحمن فراجفانی**

# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

## فعالیت‌ها و دست‌آوردها



# رت ترانسپورت و هوانوردی

# کړنې او لاسته‌راوړنې

- **د افغانستان د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پراختيا**
- له قزاقستان سره د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پراختيا
- له متحده عربي اماراتو سره د پانګونې او همکاريو ناسته
- له اذربايجان سره د ټرانسپورټي اړيکو پياوړتيا
- له ترکمنستان سره د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پياوړتيا
- له ايران سره د ټرانسپورټي همکاريو پراختيا
- د افغانستان، ازبکستان او پاکستان ترمنځ د ټرانسپورټي دهلېز پراختيا

- **په بېلابېلو ولايتونو کې د معياري ټرانسپورټي ترمينلونو او اړوندو تاسيساتو پرانېسته**
- د کابل ولايت د معياري ترمينلونو پرانېسته
- د ارغندی ترمينل
- د څرخي پله ترمينل
- د اروزګان ولايت مسافروړونکی ترمينل
- د کندهار ولايت دوه مهم ترمينلونه
- د نساجي ترمينل
- د باغ پل ترمينل
- د زابل ولايت ترمينل او اداري ودانۍ
- د غزني ولايت ترمينل او اداري ودانۍ
- د فارياب ولايت تيرپارک
- د باميان په هوايي ډګر کې د مسجد جوړېدل

- **گسترش زیرساخت‌های ترانسپورتی و تسهیلات حمل‌ونقل در ولایات**
- نشستی در هلمند پیرامون انتقال مصؤن محصولات برگزار شد
- برنامه‌ریزی برای اعمار ترمینل باربری در ننگرهار
- نشست مشورتی برای فراهم شدن سهولت‌های ترانسپورتی به زائران کربلا
- تطبیق لایحه کرایه در هده و ترمینل‌های کابل

- **تقویت نظم ترانسپورتی در نقاط مختلف کشور**
- تعیین مسیرهای خاص برای ریکشاها در ننگرهار
- برای شماری از مسیرها در ولایت فراه، توقف‌گاه تعیین شد
- انتقال بندر کنترولی شهر کندز به ولسوالی علی اباد

- **د کارکوونکو د وړتياوو لوړولو پروګرامونه**
- **په تېرو درېيو مياشتو کې ۱۸۱ زره کډوال لېږدول شوي دي**
- **د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې د موټرو تخنيکي ارزونه**
- **د درو مياشتو په موده کې د ځينو ترسره شويو کړنو لنډ خبرونه**

# د افغانستان د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پراختيا



د افغانستان د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په وروستيو مياشتو کې د هېواد د ټرانسپورټي او ټرانزيټي زېربناوو د پياوړتيا او د سيمې او نړۍ له هېوادونو سره د اړيکو د پراختيا په موخه يو لړ مهم ګامونه اخيستي دي. دغه هڅې د سوداګريزو توکو د لېږد رالېږد اسانتياوو، د خصوصي سکتور پانګونې او د نړيوالو ټرانسپورټي دهلېزونو په پراختيا راڅرخي.

## له قزاقستان سره د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پراختيا

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده د قزاقستان هېواد د لومړي وزير مرستيال سريک ژومانګارين او مل پلاوي سره ليدنه ترسره کړه. په دې ناسته کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پر پراختيا، د ټرانسپورټي اسانتياوو برابرولو او افغان موټرچلوونکو ته د ويزو په ورکړه خبرې وشوې. د قزاقستان لومړي وزير مرستيال ژمنه وکړه، چې په نږدې راتلونکي کې به د دواړو هېوادونو ترمنځ هوايي دهلېز فعال شي او دوی چمتو دي، چې له افغانستان سره په بېلابېلو برخو کې همکاري وکړي. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست د دواړو هېوادونو ترمنځ په همکارۍ ټينګار وکړ او دا ناسته يې د دوه اړخيز ټرانسپورټي پرمختګ يوه غوره موقع وبلله.

## له متحده عربي اماراتو سره د پانګونې او همکاريو ناسته

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده د متحده عربي اماراتو ځانګړي استازي (سيف محمد الکتبي) سره په کابل کې وکتل. په دې ناسته کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند په برخه کې د خصوصي سکتور پر پانګونې او پانګو جلبولو په اړه تفصيلي خبرې وشوې. د اماراتو استازي له افغانستان سره د هر اړخيزې همکاريو ژمنه وکړه او د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لخوا هم د همکاريو پراختيا لپاره د مناسب چاپېريال د برابرولو ډاډ ورکړل شو. دواړو لوريو دا ناسته ګټوره او اغېزمنه وبلله، چې د خصوصي سکتور د پانګونې او اقتصادي پرمختګ لپاره به نوې لارې پرانيزي.

## له اذربايجان سره د ټرانسپورټي اړيکو پياوړتيا

د روان کال د غويي مياشتې په ۲۳مه نېټه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده په کابل کې د اذربايجان سفير الهام محمدوف سره وکتل. په دې ليدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټي اړيکو پراختيا، د ټرانزيټي اسانتياوو رامنځته کولو او د لاجورد لارې د انتقالاتو پر ارزښت بحث وشو. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست ووېل، دا مهال د افغانستان له لارې د اذربايجان سوداګريزو توکو د لېږد لپاره زمينه برابره ده او دوی کولای شي له دې فرصته ګټه پورته کړي. دا همکاري د سيمې د اقتصادي او ټرانسپورټي اړيکو لپاره يو مهم ګام دی.

## له ترکمنستان سره د ټرانسپورټي او ټرانزيټي اړيکو پياوړتيا

د روان کال د غبرګولي/جوزا مياشتې په ۲۸مه نېټه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده په کابل کې د ترکمنستان سفير (خواجه عوضوف) سره وکتل. په دې ليدنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ټرانسپورټي اړيکو پر پياوړتيا، د سوداګريزو توکو لېږد رالېږد پر زياتوالي او افغان موټرچلوونکو ته د ويزو پر اسانتياوو خبرې وشوې. د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست ووېل د کابل او عشق‌اباد تر منځ د همکاريو د پراختيا زمينه تر بل هر وخت ډېره برابره ده. د ترکمنستان سفير هم ژمنه وکړه، چې دوی غواړي په بېلابېلو برخو، په ځانګړي توګه د ټرانسپوټرټ په برخه کې، له افغانستان سره خپلې همکارۍ لا پياوړې کړي.

### له ایران سره د ترانسپورټي همکاریو پراختیا

د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت د یوې مهمې پروژې په ترڅ کې د پلان جوړونې، څېړنې او پروژو پلې کولو رئیس محمد رستم حفیظیار په مشرۍ یو پلاوی ایران هېواد ته ولېږه. د دې سفر موخه د دواړو هېوادونو په خاوره کې د ترانزیټي وسایطو لپاره د تیرپارکونو جوړولو لپاره د مناسبو ځایونو ټاکل او د ترانسپورټي زیربناوو پراختیا وه. دا هڅه د افغانستان او ایران ترمنځ د سوداګریزو توکو د خوندي او اسانه لېږد رالېږد لپاره یو مهم ګام دی. همدارنګه، د وزارت د ترانسپورټي قوانینو او معاهداتو رئیس پارمحمد رمضان په مشرۍ یوې آنلاین ناستې د ایراني چارواکو سره د ترانزیټ، د باروړونکو موټرو فعالیت، په بندرونو کې د موټرچلوونکو لپاره اسانتیاوې او له چابهار بندر څخه د انتقالاتو پر زیاتوالي بحث وکړ. دا ناسته د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترانسپورټي همکاریو د لا پیاوړتیا لپاره یو بل مثبت پرمختګ و.

### د افغانستان، ازبکستان او پاکستان ترمنځ د ترانسپورټي دهلېز پراختیا

د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت د ترانسپورټي قوانینو او معاهداتو رئیس پارمحمد رمضان په مشرۍ د مالیې، تولګتو او صنعت او سوداګرۍ وزارتونو د استازو په ګډون یوه ګډه ناسته ترسره شوه، چې موخه یې د افغانستان، ازبکستان او پاکستان هېوادونو ترمنځ د ترانسپورټي دهلېز پراختیا وه. په دې ناسته کې د یادو هېوادونو ترمنځ د ترانسپورټي اسانتیاوو پر رامنځته کولو بحث وشو، چې د سیمې د سوداګرۍ او اقتصادي ودې لپاره به بنسټیز رول ولوبوي.

د ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت دا هڅې د افغانستان د اقتصادي او ترانسپورټي زیربناوو د پیاوړتیا د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د اړیکو د پراختیا لپاره یو مهم ګام دی. د تیرپارکونو جوړول، د ترانزیټي دهلېزونو پراختیا، د خصوصي سکتور لپاره پانګونې او د موټرچلوونکو لپاره اسانتیاوې د سوداګریزو توکو د لېږد رالېږد اسانولو او اقتصادي ودې لپاره مهم ګامونه دي. دا د نړیوالو شریکانو سره د همکارۍ د افغانستان د ترانسپوټرتي سیستم د لا معیاري کولو او د هېواد د اقتصادي خودکفايۍ لپاره یو روښانه راتلونکی وړاندې کوي. ترانسپورټ او هوايي چلند وزارت ژمن دی، چې د دې پروژو او همکاریو له لارې د هېوادوالو لپاره معیاري ترانسپورټي خدمتونو ته د لاسرسي زمینه برابره کړي او د افغانستان د اقتصادي پرمختګ او نړیوالې سوداګرۍ په برخه کې هم فعال رول ولوبوي.



# په بېلابېلو ولایتونو کې د معیاري ټرانسپورټي ترمینلونو او اړوندو تاسیساتو پرانیسته

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لهخوا د ۱۴۰۲ل کال له پیل سره د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د معیاري ټرانسپورټي ترمینلونو او اړوندو تاسیساتو د جوړېدو چارې پیل شوې، چې موخه یې د خلکو لپاره د عصري او اغېزمنو ټرانسپورټي اسانتیاوو برابرول دي. دا پروژې له یوې خوا د ټرانسپورټي خدمتونو کیفیت لوړوي او له بلې خوا د کاري فرصتونو په رامنځته کولو او د هېواد له اقتصادي ودې سره هم مرسته کوي. په دې لیکنه کې به د کابل، اروزګان، کندهار، زابل، غزني، فاریاب او بامیان ولایتونو کې د دغو مهمو پروژو په اړه بشپړ معلومات وړاندې شي.

**د کابل ولایت د معیاري ترمینلونو پرانیسته**

په پلازمېنه کابل کې دوه لوی ټرانسپورټي ترمینلونه پرانیستل شول، چې د ارغندی او څرخي پله په سیمو کې موقعیت لري.



**د ارغندی ترمینل:** د کابل ولایت ارغندی سیمه کې د څه کم ۱۳ سوه میلیونه افغانیو په ارزښت د یو معیاري ترمینل د جوړېدو چارې د یو لړ مراسمو په ترځ کې پیل شوې. په دې غونډه کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حمیدالله اخندزاده او یو شمېر نورو چارواکو ګډون درلود. دغه ترمینل به ټولې عصري اسانتیاوې ولري او چارې به یې د ۲۴ میاشتو په موده کې به بشپړې شي. دا پروژه به د مسافرو لپاره د ټرانسپورټي خدمتونو په برخه کې ګڼې اسانتیاوې برابر کړي.

**د څرخي پله ترمینل:** په کابل ولایت څرخي پله سیمه کې د ۱۶۳ میلیونه افغانیو په لګښت د یو بل معیاري ترمینل د جوړېدو چارې د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مسئولینو سربېره د اسلامي امارت لوړ پوړو چارواکو او نورو مسئولینو په ګډون پیل شوې. دغه ترمینل په ۷.۳ جریبه ځمکه کې جوړېږي، چې دوه پوړیزه اداري ودانۍ، جومات، د موټرو تمځای، رستورانت، د نارینه او ښځینه وو لپاره جلا انتظارخونې او نورې اسانتیاوې به ولري. د دې پروژې چارې به د ۱۸ میاشتو په موده کې بشپړې او شاوخوا ۵۰۰ کسانو ته به مستقیم او ۲۵۰۰ کسانو ته به په غیر مستقیم ډول د کار فرصتونه برابر کړي.



## د اروزګان ولايت مسافروړونکی ترمينل

د اروزګان ولايت په مرکز کې د ۳۸ میلیونه افغانیو په لګښت د يو معياري مسافروړونکي ترمينل جوړولو چارې پيل شوې. د دې ترمينل پرانيستې مراسمو کې د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده، د اروزګان والي مولوي عنايت الله شجاع او نورو ولايتي چارواکو ګډون درلود. دا ترمينل به د ۱۴ مياشتو په موده کې بشپړ شي او د اروزګان اوسېدونکو لپاره به د ترانسپورتي خدمتونو په برخه کې غوره اسانتياوې رامنځته کړي.



## د کندهار ولايت دوه مهم ترمينلونه

په کندهار ولايت کې دوه معياري ترمينلونه پرانيستل شول، چې د نساجې او باغ پل په سيمو کې موقعيت لري.

**د نساجي ترمينل:** د کندهار ولايت د دامان ولسوالۍ نساجي سيمه کې د ۲۸۴ میلیونه افغانیو په ارزښت د يو مسافروړونکي ترمينل جوړولو چارې پيل شوې. دغه ترمينل په ۱۰۰ جريبه ځمکه کې جوړېږي او ټولې اړينې اسانتياوې به ولري. د پروژې چارې به د ۱۴ مياشتو په موده کې بشپړې شي.



**د باغ پُل ترمينل:** د کندهار ولايت باغ پل سيمه کې د ۱۶۷ میلیونه افغانیو په لګښت د بل مسافروړونکي ترمينل جوړولو چارې پيل شوې. دا ترمينل په ۱۴۲ جريبه ځمکه کې جوړېږي او چارې به يې د ۱۴ مياشتو په موده کې بشپړې شي. د دې پروژو د پرانيستې په مراسمو کې د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت سرپرست الحاج ملا حميدالله اخندزاده، د اسلامي امارت وياند مولوي ذبيح الله مجاهد او نورو محلي چارواکو برخه درلوده.



## د زابل ولايت ترمينل او اداري ودانۍ

په زابل ولايت کې د ۲۸ میلیونه افغانیو په لګښت د يو مسافروړونکي ترمينل او د واټ ترانسپورت اروند د يوې درې پوړيزې اداري ودانۍ جوړولو چارې پيل شوې. دا پروژه د ترمينل چاپېره ديوال، جومات، د اوبو سيستم، انتظارخونې، د موټرو لپاره منظم سپوري ځايونه او دوه دروازې لري. د دې پروژې چارې به د ۱۲ مياشتو په موده کې بشپړې شي.

د دې پروژې د پرانيستې په مراسمو کې د ترانسپورت او هوايي چلند وزارت مالي او اداري معين حافظ صديق الله عابد او نورو ولايتي مسئولينو ګډون درلود.



## د غزني ولایت ترمینل او اداري ودانۍ

د ترمینلونو جوړولو په دې لړۍ کې په غزني ولایت کې هم په ۱۶ جریبه ځمکه کې د ۳۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د یو مسافروړونکي ترمینل او د واټ ترانسپورت اداري ودانۍ جوړولو چارې پیل شوې. دا ترمینل به اداري ودانۍ، د موټرو سپورې ځایونه، جومات او نورې اسانتیاوې ولري او چارې به يې د ۱۲ میاشتو په موده کې به بشپړ شي. د دې ترمینل د پرانیستو په مراسمو کې د ترانسپورت او هوایي چلند وزارت مالي او اداري معین حافظ صدیق الله عابد او محلي چارواکو برخه درلوده.



## د فاریاب ولایت تیرپارک

د فاریاب ولایت په اقینه بندر کې د ۱۰۷ میلیونه افغانیو په لګښت د یو تیرپارک جوړولو چارې پیل شوې. دا پروژه د خصوصي سکتور له خوا په ۲۰ جریبه ځمکه کې پلي کېږي، چې اداري ودانۍ، جومات، ورکشاپونه او نورې اسانتیاوې به ولري.

د پروژې چارې به د دوو کلونو په موده کې بشپړې شي.



## د بامیان په هوایي ډګر کې د مسجد جوړېدل

د بامیان هوایي ډګر کې د ۳.۶ میلیونه افغانیو په لګښت د یو جومات جوړولو چارې پیل شوې. دا جومات به د ۱۵۰ لمونځ کوونکو د ځایولو ظرفیت ولري او چارې به یې د ۷ میاشتو په موده کې به بشپړ شي.

## د دې پروژو اهمیت

دغه ترانسپورتي پروژې د افغانستان د ترانسپورتي زیربناوو د پراختیا او عصري کولو لپاره یو مهم ګام دی. ترانسپورت او هوايي چلند وزارت ژمنه کړې، چې د هېواد په ټولو برخو کې ورته اسانتیاوو ته پراختیا ورکړي، ترڅو خلکو ته د سفر پر مهال خوندي، اسوده او معیاري خدمتونه وړاندې شي. دا پروژې د خلکو ورځنی ژوند اسانوي او د اقتصادي ودې او کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې مهم رول لوبوي.

د دې ټولو ترمینلونو او تاسیساتو جوړېدل به د افغانستان د ترانسپورتي سیستم په پیاوړتیا کې مرسته وکړي او د هېوادوالو لپاره به د لا غوره خدمتونو د برابرولو زمینه برابره کړي. ترانسپورت او هوايي چلند وزارت د دې پروژو له لارې د خپلې ژمنې د عملي کولو په لټه کې دی، چې هېوادوالو ته د عصري ترانسپورتي اسانتیاوو د وړاندې کولو ترڅنګ د هېواد اقتصادي پرمختګ ته هم وده ورکړي.

# گسترش زیرساخت‌های ترانسپورتی و تسهیلات حمل‌ونقل در ولایات

وزارت ترانسپورت و هوانوردی در راستای بهبود زیرساخت‌های ترانسپورتی و تسهیل در سیستم ترانسپورتی، اقدامات چشمگیری را در ولایات مختلف کشور انجام داده است. این اقدامات شامل برگزاری نشست‌های مشورتی، برنامه‌ریزی برای احداث ترمینل های جدید، تنظیم لایحه کرایه و ایجاد سهولت برای شهروندان می‌شود. در این گزارش به جزئیات این فعالیت‌ها و تاثیرات آن بر بهبود خدمات ترانسپورتی پرداخته می‌شود.

**نشستی در هلمند پیرامون انتقال مصؤن محصولات برگزار شد**

مسئولان ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت هلمند با نمایندگان فابریکه‌های صنعتی و رانندگان وسایط باربری در باره انتقال مصؤن محصولات تولیدی و تطبیق لایحه کرایه نشست برگزار کردند. در این نشست به نمایندگان فابریکه‌های صنعتی اطمینان داده شد که در زمینه انتقال محصولات و اموال تجارتی سهولت‌های بیشتر فراهم خواهد شد.

**برنامه‌ریزی برای اعمار ترمینل باربری در ننگرهار**

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت ننگرهار با نمایندگان ریاست صنعت و تجارت این ولایت پیرامون اعمار یک ترمینل باربری در این ولایت نشست برگزار کرد.
در این نشست در مورد تعیین زمین مناسب برای ساخت ترمینل و برخی موضوعات دیگر بحث و تبادل نظر صورت گرفت. تلاش‌ها جریان دارد تا با اعمار این ترمینل در قسمت فعالیت‌های ترانسپورت باربری خدمات بهتر عرضه گردد.

**نشست مشورتی برای فراهم شدن سهولت‌های ترانسپورتی به زائران کربلا**

الحاج ملا عبدالسلام حیدری، معین ترانسپورت جاده‌ای وزارت ترانسپورت و هوانوردی با رئیس شورای علما و اتحادیه شرکت‌های سیاحتی و زیارتی اهل تشیع، به‌منظور فراهم شدن سهولت های ترانسپورتی به زائران کربلا نشست مشورتی برگزار کرد. در این نشست روی چگونگی انتقال این زائران تا مرز کشورهای ایران و عراق بخاطر ادای مراسم زیارت کربلا، فراهم شدن سهولت‌های ترانسپورتی و برخی موضوعات دیگر بحث و تبادل نظر صورت گرفت.
این اقدام نشان‌دهنده تعهد وزارت ترانسپورت و هوانوری به ارائه خدمات ترانسپورت معیاری برای شهروندان در سفرهای زیارتی است.

**تطبیق لایحه کرایه در هده و ترمینل‌های کابل**

مولوی عبدالغفار فاروق، رئیس عمومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای کابل به‌منظور تطبیق لایحه کرایه‌های تعیین‌شده در هده‌ها و ترمینل‌های ترانسپورتی شهر کابل، با نمایندگان شرکت‌های ترانسپورتی و شماری از ادارات دولتی نشست مشترک برگزار کرد.
در این نشست یک کمیته مشترک برای نظارت و کنترول دوامدار از تطبیق لایحه کرایه در هده‌ها و ترمینل‌های ترانسپورتی در شهر کابل تشکیل شد.
این اقدام به‌منظور جلوگیری از تخلفات در نرخ کرایه در هده‌ها و ترمینل‌های کابل صورت گرفته است و انتظار می‌رود نظم بیشتری در سیستم ترانسپورت پایتخت ایجاد کند.
این تلاش‌ها بخشی از برنامه‌های گسترده‌تر وزارت ترانسپورت و هوانوردی برای معیاری ساختن سیستم ترانسپورت و تقویت همکاری‌های منطقه‌ای و بین‌المللی است.

## د کارکوونکو د وړتیاوو لوړولو پروګرامونه

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په تېرو درېيو میاشتو کې د خپلو کارکوونکو د وړتیاوو د لوړولو په موخه یو لړ اغېزناک ښوونیز پروګرامونه وړاندې کړي دي. دا هڅې د اداري او مالي چارو د لا موثریت او شفافیت لپاره د برېښنايي سیستمونو پر کارولو او عصري ټکنالوژۍ تمرکز لري.
په دې لړ کې، د مالي او اداري برخو کارکوونکو ته د املاکو ثبت، مدیریت او عوایدو د برېښنايي سیستمونو په اړه یو پنځه ورځنی سمینار وړاندې شو، چې ګډونوالو ته یې نظري او عملي زده‌کړې ورکړل شوې. همدارنګه د واټ ټرانسپورټ کارکوونکو لپاره د عوایدو راټولولو او شفافیت په موخه د نویو برېښنايي سیستمونو په اړه شپږ ورځنی سمینار ترسره شو، چې د چارو د ښه والي لپاره یې مهم رول ولري. سربېره پر دې د کمپیوټر زده‌کړې دوه میاشتنی پروګرام هم پیل شو، چې کارکوونکو ته یې د بېلابېلو کمپیوټري پروګرامونو په اړه عملي او تیوري پوهه ورکړه.
د دې تر څنګ په ولایاتو کې هم د وزارت کارکوونکو او د ټرانسپورټي شرکتونو استازو ته لنډ مهاله سمینارونه وړاندې شول، چې دوی ته یې په اړوند برخو کې معلومات وړاندې شول.
دا ښوونیز پروګرامونه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د اداري او تخنیکي وړتیاوو د پیاوړتیا لپاره ګټور ثابت شوي دي او د خدماتو کیفیت او شفافیت هم ورسره ښه شوی دی.

## په تېرو درېيو میاشتو کې ۱۸۱ زره کډوال لېږدول شوي دي

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت په مشرۍ، د ټرانسپورټ کمېټې له خوا، د ګاونډیو هېوادونو څخه د راستنېدونکو افغان کډوالو خپلو سیمو او مېنو ته د وړیا او خوندي لېږد لړۍ په جدي ډول روانه ده. د ۱۴۰۴ ال کال په لومړیو درېيو میاشتو کې د یادې کمېټې له خوا څه باندې ۱۸۱ زره افغان کډوال د هېواد بېلابېلو ولایتونو ته په خوندي او وړیا ډول لېږدول شوي دي او په دې برخه کې ورته ټولې اسانتیاوې برابرې شوې دي. زموږ سره د شریکو شویو شمېرو له مخې له تورخم څخه ۸۲،۶۲۹ کډوال د ننګرهار، لغمان، کونړ، نورستان او کابل ولایتونو ته، له سپین بولدک څخه نږدې ۴۴،۴۶۰ کډوال کندهار، هلمند، نیمروز، روزګان، زابل، غزني او پکتیکا ولایتونو ته او همدارنګه له کابل څخه ۵۳،۹۵۰ تنه کډوال خپلو ولایتونو او د دوی د خوښې سیمو ته لېږدول شوي دي. دا پروسه څه باندې یو کال وړاندې پیل شوې ده، چې تر دې دمه ګڼ شمېر کډوال تر خپلو سیمو په وړیا ډول رسول شوي دي، چې دا د اسلامي امارت خپل هېوادوالو ته د خدمتونو یوه څرګنده بېلګه ده او موخه یې د کډوالو د ژوند اسانتیا، د بې ځایه کېدو ستونزو راکمول او د دوی د بېرته راستانه کېدو بهیر ته چټکتیا ورکول دي.

## د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې تخنیکي ارزونه

ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د موټرو د خوندیتوب او معیاري فعالیتونو د تأمین او د مسافرو د خوندیتوب په موخه، د تخنیکي ارزونو یوه پراخه لړۍ پیل کړې ده، چې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو او ترمینلونو کې پلي کېږي. په تېرو درو میاشتو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې په سلګونو مسافروړونکو موټرو تخنیکي ارزونه ترسره شوې ده، چې ځینې موټرونه د جدي تخنیکي ستونزو له امله موقتي ډول له فعالیت راګرځول شوي او بېرته اصلاح شوي دي. د دې تر څنګ د هغو موټرو ارزونه هم ترسره شوې ده، د نیمروز ولایت له لارې د ایران هېواد له خوا افغانستان ته د مالونه لېږدوي. د دغه پروګرام له لارې د لېږدونکو وسایطو فني وضعیت ارزول کېږي او د موټر چلوونکو ته د اصلاح او معیاري کولو لپاره مشخصې لارښوونې هم کېږي او دا لړۍ به د هېواد په ټولو ولایاتو کې همداسې روانه وي. د دې اقداماتو پایله دا ده، چې د ټرانسپورټ په برخه کې د خوندیتوب کچه لوړېږي، د تخنیکي نیمګړتیاوو له امله د پېښو کچه راټیټېږي او هم د هېواد د ټرانسپورټي سیستم پر باور مثبت اغېز کوي.

# تقویت نظم ترانسپورتی در نقاط مختلف کشور

وزارت ترانسپورت و هوانوردی به‌هدف بهبود نظم ترانسپورتی، کاهش ازدحام شهری و ارائه خدمات بهتر به شهروندان، اقدامات مؤثری را در ولایت‌های ننگرهار، فراه و کندز روی‌دست گرفته و عملی ساخته است. این اقدامات شامل تعیین مسیرهای خاص برای ریکشاها، ایجاد توقفگاه‌های جدید برای وسایط مسافربری و انتقال بندر کنترولی در کندز می شود. در این گزارش، به جزئیات این فعالیت‌ها می‌پردازیم.

### تعیین مسیرهای خاص برای ریکشاها در ننگرهار

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت ننگرهار به‌منظور ایجاد نظم ترانسپورتی برای فعالیت ریکشاها در شهر جلال‌آباد مسیرهای خاص تعیین شده است. این ریکشاها از این پس در مسیرهای مشخص‌شده مسافر انتقال خواهند داد. با این حال این اقدام سبب می‌شود که ازدحام شهری کاهش یابد.

### برای شماری از مسیرها در ولایت فراه، توقفگاه تعیین شد

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت فراه به‌منظور جلوگیری از ازدحام شهری و فراهم‌سازی سهولت‌ها برای شهروندان، برای وسایط مسافربری مسیرهای ولسوالی‌های اناردره، پشت‌کوه، شیبکوه، لاش و جوین، بندر ابونصر فراهی و مسیر فراه– نیمروز، توقفگاه جدیدی تعیین کرده است. در این توقفگاه‌ها تسهیلات لازم برای رانندگان و مسافران فراهم شده است.

### انتقال بندر کنترولی شهر کندز به ولسوالی علی اباد

ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت کندز به‌هدف بهبود فعالیت‌ها و نظم ترانسپورتی، بندر کنترولی شهر کندز را به ولسوالی علی‌آباد این ولایت انتقال داده است.
انتقال این بندر کنترولی به علی‌آباد، در قسمت تنظیم و کنترول وسایط مسافربری و باربری در این ولایت نقش موثر خواهد داشت.

این فعالیت‌ها نشان‌دهنده تعهد این وزارت به عرضه خدمات معیاری و باکیفیت به شهروندان است که در قسمت فراهم‌شدن سهولت‌ها گام مهم پنداشته می‌شود.





## د درو میاشتو په موده کې د ځینو ترسره شویو کړنو لنډ خبرونه:

- وری/حمل
- نظارت از فعالیت‌های ترانسپورتی در سمنگان.
- په نیمروز ولایت کې د هفه ایراني تکسي موټرو، چې د زرنج بندر له لارې د افغانستان او ایران ترمنځ تګ راتګ کوي، تخنیکي ارزونه ترسره شوه.
- په هرات ولایت کې د واټ ترانسپورټ تنظیم ریاست له لورې د یاد ولایت د ترافیکو ریاست له استازو سره د موټرو
- معیاري کولو او ترانسپورتي اصولو پلي کولو په تړاو ناسته وشوه.
- نظارت از فعالیت هده‌های مسافربری در بلخ.
- د کابل واټ ترانسپورټ تنظیم ریاست له خوا د کابل ښار تولو ترانسپورتي ترمینلونو کارکوونکو ته سپارښتنه وشوه، چې د موټرو تخنیکي اړخ ته پاملرنه زیاته کړي او عوارض لرونکو موټرو ته د فعالیت اجازه ور نه کړي.
- د هیواد په مسافروړونکو ترمینلونو او کنترولي بندرونو کې د کرایې د تطبیق په برخه کې څارنه ترسره شوه.
- انتقال بندر کنترولی شهر کندز به ولسوالی علی آباد.
- د کوچني اختر په مناسبت په ترمینلونو کې د کرایې لاېحې څارنې او مسافرو ته د لازمو خدمتونو وړاندې کولو په موخه ځانګړي ټیمونه ګمارل شوي وو.
- په سمنګان ولایت د ښار په بېلابېلو برخو کې د موټرو کرایې لایحې څارنه، د اضافي زیات لېږدولو مخنیوی او د موټرو اصولي کولو په موخه هره ورځ څارنه ترسره کېږي.
- ارائه سمینار آموزشی به نمایندګان شرکت‌های ترانسپورتی در بلخ.
- په نیمروز ولایت کې د باروړونکو ترانسپورتي شرکتونو استازو سره د سوداګریزو توکو د خوندي لېږد او ټاکل شوې کرایې لایحې شه پلي کولو په تړاو ناسته وشوه.
- بهبود خدمات ترانسپورتی در سمنگان؛ به مشکلات رانندګان و مسافران رسیدګی می شود.
- په هلمند کې د بین‌الولایتي باروړونکو موټرو ترمینل کې د ترانسپورتي شرکتونو استازو سره د موټرو تخنیکي چک، روند نوبت سیستم کې د موټرو د ثبت پروسې پر چټکتیا خبرې وشوې.
- په بغلان ولایت کې د ۳۸ میلیونه افغانیو په ارزښت د ترانسپورتي تاسیساتو چارې روانې دي.



- غوښې/ثورمیاشت:
- برگزاری نشستی در باره ایجاد کنسرسیوم ریلی.
- په مسافر وړونکو موټرو کې د جي پي ایس الې له لارې په لویو لارو کې د موټرو لوړ سرعت په دوامدار ډول څارل کېږي.
- په نیمروز ولایت کې د مسافروړونکو او باروړونکو ترانسپورتي شرکتونو استازو ته د ترانسپورتي کرنلارو سره د بلدتیا په پار درې ورځنی سمینار وړاندې شو.
- د کابل ولایت دهسبز باروړونکي ترمینل کې د لویو باروړونکو موټرو تخنیکي ارزونه پیل شوه.
- د کابل نړیوال هوایي ډگر څخه سعودي عربستان ته د ۲۳۰ تنو حج‌کوونکو لومړنی الوتنه ترسره شوه.
- د مولانا جلال الدین محمد بلخي نړیوال هوایي ډگر څخه د حج فریضې ادا کولو په موخه لومړنی الوتنه ترسره او ۳۴۶ تنه حج‌کوونکي سعودي عربستان ته ولېږدول شول.
- نظارت از فعالیت هده‌ها در هرات.
- د کندهار ولایت وات ترانسپورت تنظیم ریاست گرځنده ټیم لخوا د کندهار ښار په څنډو کې د لېږدوونکو موټرو څارنه او د لیزري څراغونو مخنیوی وشو.
- د ننگرهار ولایت وات ترانسپورت تنظیم ریاست مسئولینو د د سره‌رود ولسوالۍ له استازو سره د ترانسپورتي وسایطو تنظیم، کنټرول او هېوادوالو ته پر وخت د خدماتو وړاندې کولو په اړه ناسته وکړه.
- بهره‌برداری تعمیر اداری آمریت تنظیم ترانسپورت جاده‌ای پروان.
- نیمروز ولایت وات ترانسپورت تنظیم ریاست تخنیکي ټیم لخوا د یاد ولایت ترانسپورتي ترمینلونو کې د مسافروړونکو
- موټرو تخنیکي ارزونه ترسره شوه او د اضافي څوکیو، لیزري څراغونو او بار لېږدونې مخه ونیول شوه.
- د وات ترانسپورت معین الحاج ملا عبدالسلام حیدري د کابل ترانسپورت اړوند ریاستونو له استازو سره د چارو د ښه تنظیم لپاره ناسته وکړه.
- دیدار با نمایندگان شرکت‌های ترانسپورتی در بلخ.
- د خلیج ترمینل او کنټرولي بندر له ترانسپورتي چارو څارنه وشوه او مسئولینو ته د خدمتونو د ښه والي لارښوونې وشوې.
- د ابو نصر فراهي بندر ۶زره متره دیوال جوړېدو چارې په چټکۍ سره روانې دي.
- د ننگرهار ولایت وات ترانسپورت تنظیم ریاست مسئولینو لخوا موټر چلوونکو ته د ترانسپورتي اصولو، کرایې لایحې،
- نوبت رعایت او ښه سلوک په اړه عامه‌پوهاوی ورکړل شو.
- نشست مشترک با همتای ایرانی در هرات؛ بر فراهم شدن سهولت‌های ترانسپورتی تاکید شد.
- در باره توافقنامه الکترونیکی‌سازی عواید بخش ترانسپورت جاده‌ای نشست برگزار شد.
- ارائه خدمات معیاری اولویت ریاست عمومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای کابل.
- د ننگرهار ولایت وات ترانسپورت تنظیم ریاست مسئولینو لخوا د ترانسپورتي شرکتونو استازو ته د یوې ناستې پرمهال
- د عواید برېښنایي سیستمونو پلي کولو او په تړاو معلومات ورکړای شول.



- غیرگولی/جوزا
- د کندوز ولایت واټ ترانسپورټ تنظیم ریاست نوې اداري ودانۍ جوړېدو چارو څخه څارنه ترسره شوه.
- په بارورونکو ترمینلونو کې د ښه خدمتونو وړاندې کولو په موخه د اړوندې برخې کارکوونکو ته څلور ورځنی سمینار وړاندې شو.
- پیشرفت در کارهای ساخت ترمینل باربری هرات.
- د لښکرګاه هوایي ډګر کارونه بشپړېدو ته نږدې شوي دي.
- جریان ساخت و ساز ترمینل مسافربری باغ‌پل کندهار.
- رئیس پلان‌گذاری، تحقیق و تطبیق پروژه‌ها با رئیس شهرسازی و مسکن بلخ دیدار کرد.
- د احمدشاه بابا نړیوال هوایي ډګر د رمپ پراختیا پروژه بشپړېدو ته نږدې شوې ده.
- سروې ابتدایی برخی ساحات برای ساخت تیرپارک در فاریاب.
- نظارت از فعالیت هده‌های ترانسپورتی در مرکز ولسوالی های تخار.
- د جي پي ایس شرکتونو له استازو سره په ناسته کې د همغږۍ او معیاري خدمتونو ټینګار وشو او کارکوونکو ته د جي پي ایس سیسټم د کارونې په اړه روزنیز سمینار وړاندې شو.
- نظارت از تطبیق پروژه دیوار احاطوی تیرپارک در ولیات کندز.
- د کندهار- سپین بولدک ولسوالۍ تر منځ ټکسي موټرو په نوي رنګ او رسمي بڼه فعالیت پیل کړ.
- په زرنج ښار کې د کرایې لایحې پلي کېدو په موخه د موټرو کرایه وڅارل شوه او موټرچلوونکو ته لارښوونې وشوې.
- د اختر په ورځو کې د هېواد په ټولو ولایتونو کې د وزارت د څارنې ټیم له خوا د کرایې کنټرول ترسره شو.
- ریاست تنظیم ترانسپورت جاده‌ای ولایت هرات به‌هدف توانمندسازی پایدار سمینار آموزشی برگزار کرد.
- د کندهار په احمدشاه بابا نړیوال هوایي ډګر کې د جیولټ رمپ پراختیا او اوبو کانالونو ویستلو پروژې کارونه په بشپړېدو دي.
- نظم ترمینل‌ها در اولویت برنامه‌های ریاست عمومی تنظیم ترانسپورت جاده‌ای کابل.
- احمدشاه بابا مېنې ترانسپورتي سټېشن څخه شاوخوا ۱۲ مسیرونو باندې ترانسپورتي موټر فعالیت کوي او د ټولو مسیرونو موټرو لپاره منظم تمځایونه ټاکل شوي.

# په هوايي ډګرونو کې د اطفايې رول

هوايي ډګرونه د نړيوالو سفرونو او سوداګريزو توکو د لېږد رالېږد مهم مراکز دي، چې خونديتوب يې د مسافرو، الوتکو او عملياتو لپاره لومړيتوب لري. په دې برخه کې د اور وژونکې ډلې يا اطفايې رول بنسټيز شوی دی، چې د نړيوال ملکي هوايي چلند سازمان د معيارونو له مخې د اورلګېدنې، پېښو ناستو او نورو پېښو پر وړاندې چټک او مسلکي غبرګون ښيي. دا ليکنه په هوايي ډګرونو کې د اطفايې دندې، کاري اصول، نړيوال معيارونه، تجهيزات او اهميت په اړه معلومات وړاندې کوي.



## په هوائي ډګرونو کې د اور وژونکي ډلې یا اطفائي رول:

د هوايي ډګرونو د اور وژنې ډله د هوايي چلند د امنيت تر ټولو مهمه برخه ده. دوی نه يوازې د اورلګېدنې پر وړاندې مبارزه کوي، بلکې د بېړنيو حالاتو مديريت، د مسافرو ژغورنه او د احتمالي خطرونو مخنيوي ته هم ځانګړې پاملرنه کوي. د دوی چټک غبرګون او پرمختللي تجهيزات د دې تضمين ورکوي چې هره پيښه په کم وخت کې کنټرول شي، ترڅو د مسافرو، پيلوټانو، او الوتکو امنيت خوندي پاتې شي. په هوايي ډګرونو کې د اور وژنې ډله ۲۴ ساعته چمتو وي، څکه چې اورلګېدنه يا هر ډول بېړنی حالت هر وخت پېښېدلی شي. د الوتکو د تېلو ډېر اشتعال لرونکي خاصيت ته په کتو، د اور وژنې ډله بايد چټک عمل وکړي، څو د ستر ناورين مخه ونيسي، که چيرې يوه الوتکه ېېرنۍ ناستې ته اړتيا ولري، د هوايي ډګر د اور وژنې ډلې سمدلاسه د ځغاستليکي پر څنډو چمتو درېږي، ترڅو د هر ډول اورلګېدنې، چاودنې یا مسافرو د ژغورنې لپاره ژر تر ژره اقدام ترسره کړي. د دوی مسلکي مهارتونه نه يوازې د اور وژنې، بلکې د الوتکې د دروازو پرانيستلو، د ټپيانو ايستلو، او طبي مرستو ته هم ځانګړي دي. اطفائيه نه يوازې د اور وژلو، بلکې د احتمالي اورونو د مخنيوي او مهار لپاره هم کار کوي. د هوايي ډګرونو اور وژنې ډله د سون توکو ، الوتکو، او هوايي ډګر ته نږدې تأسيساتو په منظم ډول تفتيش کوي، ترڅو هر ډول احتمالي خطرناکه شرايط له منځه يوسي. سربېره پر دې د هوايي ډګر کارکوونکو او پيلوټانو ته د اور ضد وسايطو د استعمال لارښووني هم کوي، ترڅو دوی د بېړنيو حالاتو پر مهال خپله ساتنه وکړي. د عصري ټيکنالوژۍ، مسلکي روزنې، او نړيوالو معيارونو تطبيق دا ډاډ ورکوي چې د هوايي ډګرونو د اور وژنې ډله د هر ډول بېړني حالت پر وړاندې چمتو ده، تر څو د مسافرو ژوند وژغوري او د هوايي چلند دوامداره خونديتوب ډاډمن کړي.

## په هوايي ډګرونو کې د اور وژنې ډلې (اطفايي) د کار اصول:

د هوايي ډګرونو د اور وژنې ډله د هر ډول اورلګېدنې، احتمالي او بېړنيو حالاتو د خطر په وړاندې ځانګړي مسلکي تدابير او کاري اصول لري. دا مسلکي ډله مکلفه ده، چې تل بشپړ چمتووالی ولري. د اورلګېدنې يا هر بېړني حالت په صورت کې په کمترينه موده کې د پېښې ځای ته ځان ورسوي. دا چمتووالی د دوامداره روزنې، پرمختللو تجهيزاتو، وسايطو او چټکو اکمالاتو له لارې باوري کېدای شي. د اور وژنې ډلې بايد نه يوازې د اور وژنې مهارتونو تر څنګ د روغتيا، خونديتوب او ژغورنې د اصولو سره هم بايد بلد وي. د بېلګې په توګه، که چيرې اور د الوتکې دننه وي، نو د مسافرو د ژوند ژغورل بايد تر هر څه مهم وګڼل شي. د همدې لپاره، د اور وژنې ډله د هوايي ډګر د څار برج، طبي او امنيتي ادارو سره نږدې همغږي لري تر څو هر اړخيز بېړنی غبرګون تر سره کړي. د هوايي ډګر د اور وژنې ډله بايد تل د اور وژنې نوي تخنيکونو، معياري عملياتو او د نړيوالو ملکي هوايي چلند سازمان د اصولو سره اشنا وي. د دوی لپاره منظمه فزيکي، ذهني او تخنيکي روزنه لازمي ده. سربېره پر دې وخت پر وخت بايد د بېلابېلو احتمالي پېښو او اور لګيدنې صحنې ورته وړاندې شي. د هوايي ډګرونو د اور وژنې ډله بايد د احتمالي اورلګېدنې د مخنيوي او کنټرول لپاره مستند او واضح بېړني پلانونه ولري. دا پلانونه بايد د خطر ارزونې، د عکس العمل د مرحلو، د مختلفو سناريوګانو لپاره د غبرګون ميکانيزم او د مسؤليتونو د وېش تفصيل ولري. د بېړني حالت په صورت کې د اور وژنې ډله بايد له څنډ پرته د دې پلانونو له مخې عمل وکړي او د هر احتمالي خطر پر وړاندې چټک، مؤثر او مسلکي اقدامات ترسره کړي. بايد يادونه وشي چې هوايي ډګرونو د اور وژنې ډلې (اطفايي) کاري اصول د چټک غبرګون، خونديتوب او مؤثر مديريت پر بنسټ ولاړ دي. د اور وژنې ډله بايد هر وخت چمتو وي ترڅو د بېړنيو حالاتو، لکه د الوتکو اور اخيستلو، تېلو توېدلو، يا هر ډول اورلګېدنې ته ژر غبرګون وښيي. دوی د نړيوالو معيارونو سره سم رول لري، د دوی اصلي موخه د مسافرو، پيلوټانو، کارکوونکو، الوتکو او شتمنيو خونديتوب تامينول او د الوتنې عملياتو ته هر ډول احتمالي ګواښونه کمول دي.

## په هوايي ډګرونو کې د اطفائي لپاره د نړيوال هوايي چلند سازمان معيارونه او مقررات:

د نړيوال ملکي هوايي چلند سازمان د مقرراتو له مخې، د هر هوايي ډګر اور وژونکې ډله مکلفه ده، چې د اور لګېدنې يا بېړني حالت راپور له ترلاسه کولو وروسته ژر تر ژره د پېښې ځای ته ځان ورسوي. د نړيوال ملکي هوايي چلند سازمان معيارونه وايي، چې د اور وژنې ډله بايد د اور د راپور له ترلاسه کولو وروسته په دوو دقيقو کې پېښې ته ورسېږي، او دا وخت بايد هېڅکله له ۳ دقيقو زيات نشي. دا معيار څکه مهم دی چې اورلګېدنه په الوتکو کې ډېر په چټکۍ خپرېږي، او که اطفائيه ژر ورته ونه رسېږي، نو نه يوازې الوتکه زيانمنېږي، بلکې د مسافرو ژوند هم له خطر سره مخ کېږي.

د نړیوال ملکي هوايي چلند سازمان له مخې، د هوايي ډګر د اور وژنې ډله باید ځانګړي مسلکي مهارتونه ولري او منظم ورځني پروګرامونه تعقیب کړي. په دا روزنه کي باید د اور وژنې پرمختللي تخنیکونه، د الوتکو د سونګ موادو ځانګړتیاوې، د اورلګېدنې دولونه، د مسافرو د ژغورنې لارې او د بېړني حالتو مدیریت پکې شامل وي. د دې تر څنګ، دا مسلکي ډله باید هر کال د فزیکي ورتیا ازموینه ترسره کړي، ترڅو دا ډ ترلاسه شي، چې دوی د بېړنیو حالاتو سره د مقابلې فزیکي توان لري او که نه. د ملکي هوايي چلند سازمان معیارونه ټینګار کوي، چې د اور وژنې لپاره باید لوړ کیفیت لرونکي فوم او کیمیاوي مواد استعمال شي. دا مواد باید چټک تاثیر ولري، تر څو د اور پراخېدو مخه ونیسي. همدارنګه باید چاپېریالي زیان یې تر ممکنه حده کم وي. ځکه نړیوال هوايي چلند سازمان د اور وژنې لپاره چاپېریال ته کم ضرر لرونکو موادو د کارولو سپارښتنه کوي. د نړیوال ملکي هوايي چلند سازمان د معیارونو له مخې، د هوايي ډګرونه د اور وژنې خدمات په کچو وېشل شوي دي.
دا کچې له یو څخه تر لسو پورې دي، چې لومړۍ کچه لرونکي خدمات کوچني هوايي ډګرونه، او لسمه کچه یې لوی نړیوال هوايي ډګرونه رانغاړي. هره کچه باید د ځانګړو تجهیزاتو، وسایطو او د اور وژنکو ځانګړی شمېر ولري، تر څو اور لګېدنې او بېړني حالت ته ژر او پر وخت ځواب ورکړي. په نړیوالو هوايي ډګرونو کې د اور وژنې ډلې، طبي خدماتو، امنیتي ادارو او د هوايي ترافیک د څارونکي برج تر منځ روښانه همغږي اړینه ده. د ملکي هوايي چلند سازمان د مقرراتو له مخې، د اور لګېدنې او بېړني حالت په صورت کې باید د هوايي ترافیک د څار برج، د اور وژنې ډله، طبي او امنیتي ادارې یې له ځنډه یو بل ته خبر ورکړي. د اور وژنې ډله باید د څار برج سره همغږي ولري، چې د اور د موقعیت، شدت او په الوتکه کې د مسافرو د وضعیت په اړه کره معلومات ترلاسه کړي. همدا راز ټولې اداري باید د نړیوال ملکي هوايي چلند سازمان د معیارونو مطابق عمل وکړي. د نړیوال ملکي هوايي چلند سازمان معیارونه د دې لپاره وضع شوي چې د هوايي ډګرونو اطفائیوي خدمات چټک، مؤثر، او خوندي وي. دا معیارونه د اور وژنې د کنترول مهارتونه، د اور وژونکو روزنه، د وسایلو کیفیت، د چاپېریال ساتنه، د هوايي ډګر د اور وژنې کچې د خدماتو تنظیم، او د بېړني حالت همغږي رانغاړي. د دې مقرراتو عملي کول د مسافرو، پیلوټانو، کار کوونکو، الوتکو، وسایطو او د هوايي ډګر د شتمنیو د خوندیتوب لپاره مهم دي او هر نړیوال هوايي ډګر باید دا معیارونه تعقیب کړي، ترڅو د هر ډول اورلګېدنې یا بېړني حالت سره مسلکي مقابله وشي.

**په هوايي ډګرونو کې د اور وژنې ډلې (اطفائې) تجهیزات او وسایط:**

هر هوايي ډګر د اور لګېدنې بېړنو حالاتو او احتمالي پېښو د کنترول لپار د اور وژنې ځانګړې ډلې لري، چې په عصري پرمختللو تجهیزاتو او وسایطو سمبال دي. دا وسایط د نړیوالو سازمانو او ملي اور وژنې اتحادیې د معیارونو مطابق تاکل کېږي، تر څو د هر ډول بېړنیو حالاتو پر وړاندې فعالیت وکړي.

**د هوايي ډګرونو د اور وژنې ډلې د تجهیزاتو او وسایطو په اړه لاندې مختصر معلومات:**

د هوايي ډګرونو د اطفایې موټرونه د عادي ښاري اور وژنې د موټرونو څخه ځانګړي دي. دا موټرونه د چټک سرعت او پرمختللو سیستمونو په درلودلو سره کولای شي، اور لګېدنې ته په ثانیو کې جواب ورکړي. د اور وژنې ډلې دا موټرونه د اوبو، د اور د خپریدلو ضد پودر او کیمیاوي ترکیباتو ګډ سیستمونه لري، چې د اور لګېدنې په له مینځه وړلو کې خورا ګټور تمامېږي. البته د اور وژنې ډله څو ډوله موټرونه لري، چې هر یو یې د اور وژنې لپاره ځانګړي سیستمونه لري.
په هوايي ډګرونو کې د اور وژنې ډله د اور لګېدنې د مخنیوي لپاره د فوم څخه استفاده کوي، چې دا د اور د مخنیوي لپاره یو محافظتي طبقه جوړوي، کله چې اور لګېدنه په اوبو او فوم کنترول نشي، نو د اور لګېدنې ډله د مختلفو کیمیاوي موادو څخه استفاده کوي، تر څو اور لګېدنه مهار کړي. په هوايي ډګرونو کې د اور وژنې ډله د اورلګېدنې او بېړنیو حالاتو پر وړاندې د ډول ډول سیستمونو څخه استفاده کوي، لکه هایدرولیک، پریکوونکي سیستمونه چې د الوتکو د دروازو او یا د نورو برخو د پریکولو وړتیا لري، چې په الوتکه کې د پاتې کسانو لپاره د ژغورنې زمینه برابره کړي، د ساه اخیستلو وسایط چې د لوګي او د زهرجنو ګازاتو په مقابل کې خورا مفید او حیاتي رول لوبوي او همدارنګه د تودوخې ضد لباسونه چې د اطفایې کارکوونکي یې د اورلګېدنې پرمهال استفاده کوي.

د هوايي ډګرونو د اور وژنې ډله د اور د کشف او موندلو لپاره د عصري او پرمختللو الاتو څخه استفاده کوي، چې دا د اور وژنکو سره مرسته کوي، تر څو اورلګېدنه د اور د پیل په لومړیو ثانیو کې له مینځه یوسي. د بېلګې په توګه د اور یا لوګي کشف کوونکې الات، چې د اور د موندلو لپاره خورا حساس فعالیت کوي، تر څو د اور په لومړیو کې اور وژونکو ته خبر ورکړي.
همداراز بیړنۍ زنګونه، چې د اور لګېدنې په صورت کې د اور وژنې ډلې ټولو کار کوونکو ته د چمتوالي خبرداری ور کوي.
د هوايي ډګرونو د اور وژنې ډله د خوندیتوب لپاره هم ځانګړي تجهیزات لري، چې د اور وژونکو د ساتنې او حفاظت لپاره کلیدي اهمیت لري، چې دا پکې د حرارت او کیمیاوي موادو پر وړاندې مقاومت لرونکي ماسکونه، د لمبو ضد خولی، د تنفس او اکسیجن لپاره ځانګړي سیستمونه، د تودوخې ضد دستکشې، بوټان او د اړیکې نیوالو او همغرۍ لپاره پرمختللي وسایل پکې شامل دي. دغه تجهیزات د فزیکي خوندیتوب ترڅنګ د لوګي، تودوخې، او زهرجنو ګازونو پر وړاندې د اور وژونکو محافظت هم کوي، ترڅو دوی د بېړنیو حالاتو پر مهال چټک غبرګون تر سره کړي.

**حمیدالله ( بارکزی)**
**د احمد شاه بابا نړیوال هوايي ډګر د څار برج فني غړي**



# یو ژوندی او ۲۴۱ غږونه خاموش
## د هند د هوايي پېښې دردناک حقیقت



د ۲۰۲۵ کال د جون په ۱۲مه نېټه د هند د ګجرات ایالت په احمد اباد ښار کې یوه غمجنه پېښه وشوه چې د نړۍ پام یې ځان ته واړاوه. د «ایر انډیا» هوايي شرکت یوه بوینګ ۷۸۷ الوتکه، چې د لندن په لور روانه وه، له پورته کېدو څو شېبې وروسته د یوې سترې فاجعې قرباني شوه. په دې الوتکه کې د خدمې په ګډون ۲۴۲ سپرلۍ وې، چې یوازې یو تن یې ژوندی پاتې شو. دا پېښه نه یوازې د هند د هوايي چلند تاریخ یوه توره پاڼه ده، بلکې د نړیوالې تونلې لپاره یو خبرداری هم دی.

## د پېښې جزیات

دغه الوتکه چې د AI-۱۷۱ شمېره یې درلوده، د احمد اباد د سردار ولبهبایي پاټېل (Sardar Vallabhbhai Patel International) له ځخه د سهار په شاوخوا ۱:۳۰ بجو پورته شوه. د عیني شاهدانو او لومړنیو راپورونو له مخې، الوتکې د پورته کېدو پر مهال کومه ښکاره ستونزه نه درلوده، خو د څو دقیقو په تېرېدو سره یې کنټرول له لاسه ورکړ. دغه بوینګ ۷۸۷ډوله الوتکه چې د نړۍ یوه له پرمختللو الوتکو څخه شمېرل کېږي، د احمد اباد په مګاني نګر سیمه کې د BJ طبي کالج د یوې ودانۍ سره ټکر وکړ. دا ټکر دومره شدید و، چې د الوتکې او ودانۍ دواړو لویه برخه یې وېجاړه کړه، او په سیمه کې اور ولګېد.

## تلفات او ژغورنې هڅې

د پېښې له امله په الوتکه کې سپرو ۲۴۱ کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ، چې په دې کې ۱۶۹ هندیان، ۵۳ بریتانوي اتباع، اووه پرتګالي او یو کاناډایي شامل وو. د دې تر څنګ، د روغتون په ودانۍ کې یو شمېر اوسېدونکي او د پېښې په ځای کې موجود خلک هم ټپیان او ووژل شول. په الوتکه کې یوازې یو ۴۱ کلن بریتانوي-هندي تبعه، چې نوم یې لا نه دی ښودل شوی، په معجزه‌یي توګه ژوندی پاتې شو. هغه چې تر دې مهاله د احمد اباد په یوه روغتون کې تر درملنې لاندې دی، روغتیایي حالت یې نازک ښودل شوی دی. د پېښې سملسي وروسته، د هند د اور وژنې، پولیسو او د ژغورنې طبي ډلې د پېښې ځای ته ورسېدې. د ژغورنې عملیاتو ساعتونه دوام وکړ؛ خو د اور او د ودانۍ د نړېدو له امله کار ستونزمن و. د هند هوايي چارواکو او اړوند چارواکو د پېښې ځای ته ورسېدل او د قربانیانو کورنیو سره یې د هر اړخیزې مرستې ژمنه وکړه.

## د پېښې لاملونه

تر اوسه د پېښې دقیق لامل نه دی په ډاګه شوی، خو لومړني راپورونه د الوتکې تخنیکي ستونزې ته اشاره کوي. د هوايي چلند کارپوه‌هاني جلال وايي چې د پورته کېدو پر مهال د الوتکې سقوط اکثرآ د ماشیني عیب، د پیلوټ تېروتنې یا بهرني عواملو له امله رامنځته کېږي. د بوینګ شرکت او د هند د هوايي چلند اداري یوه ګډه پلټنه پیل کړې ده. د الوتکې تور بکس، چې د پېښې د جزئیاتو ثبتولو لپاره کارول کېږي، ترلاسه شوی او اوس تر څېړنو لاندې دی.



### نړیوال غبرګون

دې پېښې د نړۍ په کچه ژوره خواشیني رامنځته کړې. د بریتانیا، پرتګال او کانادا مشرانو د قربانیانو کورنیو ته د تسلیت پیغامونه استولي دي. د ملګرو ملتونو عمومي منشي انتونیو ګوتریش په یوه بیان کې دا پېښه «زړه بوږنونکې» بللې او د هند له خلکو سره یې خواخوږي ښودلې. ګڼو کسانو په ټولنیزو رسنیو کې د پېښې په اړه خپله خواشیني څرګنده کړې ده.

د هند د هوایي چلند تاریخي پس منظر

دا پېښه د هند د هوایي چلند په تاریخ کې یوه له خونړیو پېښو څخه ده. تر دې وړاندې، د۱۹۹۶ کال د چارخي دادري د الوتکو ټکر، د ۱۹۸۵ کال د ایر انډیا ۱۸۲ الوتکې بمي چاودنه او د ۲۰۱۰ کال د منګلور سقوط د هند هوایي چلند ته لوی ګوزارونه وو. دا پېښې د هوایي خوندیتوب په اړه جدي پوښتنې راپورته کوي، په تېره بیا په داسې وخت کې چې هند د نړۍ یو له ګړندیو هوایي بازارونو څخه دی.

### له پېښې وروسته پوښتنې

د احمد اباد پېښې د هوایي چلند د خوندیتوب، تخنیکي معایناتو او د الوتکو د تولید پروسو په اړه نړیوال بحثونه راپورته کړي دي. ایا دا پېښه د بوینګ ۷۸۷ ډوله الوتکې په ډیزاین کې د احتمالي نیمګړتیاوو نښه ده؟ د هند هوایي ډګرونه د بېړنیو حالاتو لپاره بشپړ چمتووالی لري؟ دا هغه پوښتنې دي چې پلټونکي او کارپوهان به یې په راتلونکو میاشتو کې ځوابوي.

دا پېښه موږ ته رایادونه چې د پرمختللې ټیکنالوژۍ سره سره هم انساني ژوند لا هم نازک او له خطر سره مخ دی او د خوندیتوب لپاره د لا زیاتو هڅو اړتیا ده.

## د نړۍ تر ټولو لوی نړیوال هوایي ډګر

هوایي ډګرونه د هر هېواد د اقتصاد، سوداګرۍ، او ګرځندویۍ لپاره حیاتي ارزښت لري. د مساحت او پراختیا له مخې د نړۍ تر ټولو لوی هوایي ډګر کینګ فهد نړیوال هوایي ډګر (King Fahd International Airport) دی، چې د سعودي عربستان ختیځه څنډه د دمام ښار ته نږدې موقعیت لري. دا هوایي ډګر د خپل پراخ مساحت، پرمختللو خدمتونو او مهم ستراتیژیک موقعیت له امله نړیوال شهرت لري. کینګ فهد نړیوال هوایي ډګر په ۱۹۹۹ز کال په رسمي ډول پرانیستل شو او د نړۍ د تر ټولو پراخ هوایي ډګر حیثیت یې خپل کړ. د دې هوایي ډګر پراخوالی ۷۸۰ کیلومتره مربع دی، چې دا کابو د یوه لوی ښار له مساحت سره برابر دی. یاد هوایي ډګر د مسافرو لپاره پرمختللي ترمینلونه، ارام او پرسکونه انتظارځایونه، هوټلونه، د خوړو رستورانتونه او نور خدمات لري. دا هوایي ډګر د خلیجي هېوادونو، اروپا، اسیا او افریقا ترمنځ مهم هوایي مرکز او همدا راز مکې مکرمې ته د حج او عمرې زیارت کوونکو لپاره یو مهم تمځای هم دی. کینګ فهد نړیوال هوایي ډګر د نړۍ تر ټولو پراخ هوایي ډګر دی، چې د عصري خدمتونو او مهم ستراتیژیک موقعیت له امله ځانګړی حیثیت لري. دا چې دا هوایي ډګر د پراختیا له مخې د نړۍ تر ټولو لوی هوایي ډګر ګڼل کېږي، خو د مسافرو ډېره ګڼه ګوڼه پکې نشته. د نړۍ په کچه د مسافرو د زیات بېروبار له مخې تر ټولو بوخت هوایي ډګر د امریکا هارټسفیلډ جکسن اتلانټا نړیوال هوایي ډګر (Hartsfield–Jackson Atlanta International Airport) دی.



د ایر نیوزیلینډ شرکت (Air New Zealand ) د ۲۰۲۵ میلادي کال لپاره د نړۍ تر ټولو خوندي هوايي شرکت وبلل شو او په ۳۸۵ نړیوالو هوايي شرکتونو کې یې لومړی مقام تر لاسه کړ. دا درجه‌بندي هر کال د هوايي خوندیتوب نړیوالې معتبرې ادارې د Airlineratings.com له خوا خپرېږي. سږ کال Air New Zealand توانېدلی چې د Qantas شرکت ځخه، چې کلونه یې دا لقب درلود، مخکې شي. د دې ارزونې پر مهال د شرکتونو د الوتکو نوی‌والی، د پیلوټانو د روزنې کچه، د الوتنو د خوندیتوب ریکارډ، د نړیوالو تصدیقونو شته‌والی، د امنیتي پېښو تاریخچه او مالي ثبات ته ځانګړې پام شوی دی. له دې سره قطر هوايي شرکت (Qatar Airways)، امارات هوايي شرکت (Emirates) او د هانکانګ هېواد کاتای پیسیفک هوايي شرکت (Cathay Pacific) درې واړو په مساوي ډول دریم مقام خپل کړ.
دا چې ایر نیوزیلینډ هوايي شرکت لومړی مقام تر لاسه کړی، دا په ډاګه کوي چې یاد شرکت د خوندیتوب، د مسافرو سره د باور، مسؤلیت او نوښت له نظره هم د نړۍ په کچه یو له مخکښو شرکتونو ځخه دی. دغه لاسته راوړنه د یاد شرکت د اوږدمهاله ستراتېژۍ، ټکنالوژۍ او مسلکي کارکوونکو د زحمتونو ځرګندویي کوي، چې د نړیوال هوايي صنعت لپاره یو ښه مثال ګڼل کېږي.

# د ۲۰۲۵ کال

## د نړۍ تر ټولو خوندي هوايي شرکت



# میدان هوایی مدینه منوره

## بهترین میدان هوایی خاورمیانه در سال ۲۰۲۵

میدان هوایی بین‌المللی محمد بن عبدالعزیز در شهر مدینه منوره، به‌عنوان بهترین میدان هوایی منطقه‌ای در خاورمیانه در سال ۲۰۲۵ انتخاب شد.

این میدان هوایی در کشور عربستان سعودی، با پذیرش بیش از ۱۲ میلیون مسافر، توسعه چشمگیر زیرساخت‌ها و پیشگامی در صنعت هوانوردی منطقه‌ای، برای چهارمین‌بار موفق به کسب این عنوان شده است.

در مراسم جوایز جهانی میدان‌های هوایی "اسکای‌ترکس" که در مادرید، پایتخت اسپانیا برگزار شد، میدان هوایی محمد بن عبدالعزیز جایزه نخست بهترین میدان هوایی منطقه‌ای خاورمیانه در سال ۲۰۲۵ را از آن خود کرد.

این چهارمین بار است که این میدان هوایی پس از دریافت همین جایزه در سال‌های ۲۰۲۰، ۲۰۲۱ و ۲۰۲۴ به این افتخار نائل می شود. دریافت این جایزه، جایگاه میدان هوایی بین‌المللی محمد بن عبدالعزیز را در میان برترین میدان‌های هوایی جهان تثبیت می‌کند؛ چنان‌که این میدان همچنان در جایگاه پنجاهم فهرست یک‌صد میدان هوایی برتر جهان قرار دارد.







# ډېر چټک

د موټر والا پام شو چې یو چا یې دروازه په تیږه وویشته. سخت په قهر شو، موټر یې بریک کړ او پسې راکوز شو، ماړدیګر ناوخته و، سوړ باد چلېده، له یوه هلکه پرته هلته نور څوک نه ښکارېدل. موټر والا چیغه وربانديې وکړه:

ـ ولې دې موټر وویشت؟

هلک چې ربړدبړده په ژړغوني غږ وویل:

ـ زما معیوب ورور سره له ویلچره دلته کندې ته لوېدلی دی، زه یې بوازې نه ویلچر ته خېژولی شم او نه یې له کندې را ایستلی شم. مرسته غوارم.

موټر والا یو څه نرم شو، ورته ویې ویل:

ـ ورور به دې راوباسم، غم مه کوه؛ خو لس به دې راته نیولی و، موټر به دې په تیږو نه ویشت.

معیوب را وایستل شو او وارخطا هلک چې ارام شوی و، موټر والا ته د منني په وخت وویل:

ـ وبښه، موټر مې در ژوبل کړ؛ خو ما هر موټر ته لس ونیو، ټول تېز روان وو، ما ته د هیچا را پام نه شو، ځکه مې تیږې ته لس کړ. یخني هم ډېره زیاته ده.

موټر والا ورته وویل: کور ته مو رسولای شم.

هلک وویل : خیر یوسي، د هغو ونو شاته مو کور دی، مور خپله تلای شو.

د موټر خاوند چې بېرته په پاخه سړک مزل پیل کړ، له ځان سره یې فیصله وکړه، چې په تیږه باندې داغي شوې دروازه به نه جوړوي؛ ځکه دغه داغ به ده ته همېشه وریادوي چې: **په ژوند کې دومره هم چټک مه ځه چې نور مجبور شي، ستا د پام وراړولو لپاره تیږې ته لاس کړي.**

(له خنګل کتاب څخه)



وزارت ترانسپورت و هوانوردی

ریاست اطلاعات عامه و نشرات

مجله

# ترانسپورت و هوانوردی

علمی ‹ معلوماتی ‹ فرهنگی

